وحدت ورځپاڼه - پېښور

موږ د پاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مددګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپاڼه
وحدت
پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

رجسٹرڈ پی نمبر ۲۷

فون: 2214154 فیکس: 2214321
بیعه 4 روپۍ

جلد: 31
چارشنبه، 6 ربیع الاول، 1427 هـ ق، 23 چیتر، 2062 ب
5 اپریل 2006، 16 وری (حمل) 1385 هـ ش
شماره: 92



نومیالے شاعر اوروان شناس ډاکټر کبیر ستورے پحق ورسیدو

دنوموړی عمر 64 کاله ؤ، جرمنی کښې پرې دزړۀ دوره راغله، جنازه به ئې کونړ کښې کیږی

پېښور (وحدت خبر) دپښتو ژبې مشهور شاعر او دنفسیاتو ماهر ډاکټر کبیر ستورے پرون په جرمنی کښې دزړۀ ددورې له امله پحق رسیدلے دے عمر ئې څلور شپیتۀ کاله ؤ دتیرو څو میاشتو نه دزړۀ په رنځ اخته ؤ دکبیر ستوری

باقی صفحه 5 کالم 6

پاتې ډاکټر کبیر ستورے وفات

تعلق دافغانستان کونړ ولایت سره ؤ اعلی تعلیم ئې جرمنی کښې حاصل کړے ؤ، مرحوم په نفسیاتو کښې دپی ایچ ډی ډګری هم حاصله کړې وه. دجرمن ریډیو کښې ئې زیاته موده ملازمت کړے دے، دپښتو ژبې دپاره ئې بنیادی کارونه کړیدی، جرمنی کښې ئې دپښتون سوشل ډیموکریټک پارټۍ بنیاد ایښودے ؤ اودغلته میشته پښتانۀ ئې متحد کړی وؤ، افضل خان لاله، محمود خان اچکزی او لطیف اپریدی سره ئې نزدې او ښۀ تعلقات وؤ، مرحوم پېښور کښې دپښتو عالمی کانفرنس او عالمی کانګرس په دستورو کښې هم شرکت کړے ؤ، ډاکټر کبیر ستوری دشاعرۍ او نفسیاتو دیارلس کتابونه لیکلی دی، مرحوم دوکیل عبدالجلیل کشر وروړ ؤ په غم ځپلو کښې ئې پنځه زامن بصیر ستورے، نصیر ستورے، نسیم ستورے، کرور ستورے، او ایمل خان ستورے شامل دی. خداې بخښلے ډاکټر کبیر ستورے د پښتو ژبې منلے شاعر، لیکوال او څیړونکے د پیلوم سا پوهه په پښتو او پښتونولۍ مئین مشر او دقام رښتینے بچے او خدمتګارؤ چې د سه شنبې په ورځ د ۲۰۰۶ عیسوی کال د اپریل میاشتې په څلورمه نېټه د سهار په ۵ بجو زمونږ څخه د تل له د پاره جدا شو د اروا ښاد جنازه به د هغې په پلرنۍ هدیره کښې د کونړ ولایت د تنر په کلی کښې خاوروته سپارل کیږي. (Diplom-Psychologist) ښاغلی ډوکتور کبیر ستورے په هډ پښتون په ټبر میرداد خیل ؤ چې د پښتنو د یوسفزو د پرګنې پورې اړه لری. ستوری د لعل محمد خان زوی او د برې پښتونخوا د کونړ د تنر په کلی کښې پر ۲ اپریل ۱۹٤۲ زیږیدلے ؤ دۀ خپله لومړنی زده کړه د خاص کونړ په لومړنی ښوونځی او په کابل کښې د رحمان بابا په لیسه کښې او خپله لوړه زده کړه د جرمنی د فرانکفورت، کولن او ماربورګ په پوهنتونونو کښې د ساپوهنې په څانګه کښې چې فلسفه سیاسی پوهنه او ټولنپوهنه ورسره مل وؤ سرته رسولې ده. ستوری د پښتنو ټولنیز اولسیز ګوند (پی ایس ډی پی) د بنسټ ایښودونکو مخکښانو څخه دے د شاعرۍ په نړۍ کښې ئې د یو پر مختللی ادبی بهیر پورې اړه لرله چې مشر نماینده ئې د پښتو د ادب پلار اجمل خټک دے. د پښتنو د یووالی، خپلواکۍ او سوکالۍ د پاره دۀ ته د باچا خان نظریو ژوند وربخښلے ؤ. د اروا ښاد چاپ شوی کتابونه ۱. ویره (د ساپوهنې په رڼا کښې د ویرې نظری پیمانه او درمل) ژوندی خیالونه: (د شعرونو ټولګه د قلم توره: (د شعرونو ټولګه د هوښیارتیا تله: (ساپوهنه) ژبساپوهنه. سندریز پیغام (د شعرونو ټولګه د هوښیارتیا کلتور بې پلوه تله: . د پیدا ایښتی ښو د هوښیارتیا تله ۲۰۰۴. خوږې مصرې دی او خوب مانا: تر لیکنې لاندې ئې ناچاپ کتاب دے.

ورځپاڼه وحدت پېښور
5 اپریل 2006

Daily Wahdat -Peshawar

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند د مشر اروابناد ډاکټر کبير ستوري پر ناڅاپي مړينه په ورځپاڼه وحدت کښې د پښتنو سياستوالو، ليکوالانو، پوهانو او شاعرانو ليکنې او د غمرازي اوخواخوږۍ څرګندونې

Condolences on the passing of Dr. Kabir Stori

THE FIRS... DAILY ...

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د رومبۍ ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

پېښور

وحدت

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

6 اپريل 2006

دډاکټر کبير ستوري اخري ديدار د جمعې په ورځ په پېښور ائيرپورټ کيږي

سحر پينځه بجې به د ده مړے پېښور ته رارسولے او بيا به دفن کولو دپاره کونړ ته وړلے شي



پېښور (وحدت خبر) د پښتو ژبې دستر ليکوال ،شاعر اديب او په جرمنۍ کښې د ټولنيز اولسيز ګوند دمشر ډاکټر کبير ستوری مړے د جمعې په ورځ سحر پنځه بجې پېښور ائيرپورټ ته رارسولے شي. چې دلته به د ډاکټر صيب مينه وال د ده اخري ديدار کولے شي. او وروستو به بيا ديوې قافلې په شکل کښې د ډاکټر صيب مړے د ده پلرنی ټاټوبی کونړ ته وړلے شي. چې هلته به ئې د جنازې مراسم ترسره کيږي په پښتونخوا کښې دډاکټر صيب مينه وال کولے شي. چې د ده اخرى ديدار د جمعې په ورځ سحر پنځه بجې د پېښور په هوائی ډګر وکړي.

ورځپاڼه وحدت پېښور

APNS CPNE FEC
Wahdat@pes.comsats.net.pk
ABC CERTIFIED
مونږ دپاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد ګارے (القرآن)
Daily wahdat Peshawar
چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد
ورځپانه
وحدت
پېښور
پاکستان
ایډیټر
سید هارون شاه
رجسټرډ پي نمبر ۲۷
فون: 2214154 فیکس: 2214321
بیعه 4 روپۍ
جلد: 31
پنج شنبه (زیارت)، 7 ربیع الاول 1427 هـ ق، 24 چیتر 2062 ب
6 اپریل 2006، 17 وري (حمل)، 1385 هـ ش
شماره: 93

د ډاکټر کبیر ستوري مړے د ښخ کولو دپاره کونړ ته ورسول شو

په تورخم دروازه افضل خان لاله، ایم پي اے ارشد خان، قیصر ایډووکیټ او نور مشران مړي ته ولاړ وو

د پښتنو ژبې او ملي وحدت دپاره به د ډاکټر صیب خدمتونه تل یادساتلے شي. افضل خان لاله

پېښور (پ ر) د مشهور قوم پرست دانشور او شاعر ډاکټر کبیر ستوري مړے پرون سحر د جرمني نه پېښور ته راوړے شو وروستو د مرحوم جنازه خپل پلارني کلي کونړ افغانستان ته روانه کړے شوه. جنازه چې کله د تورخم دروازې ته ورسیده نو د غلته د عوامي نیشنل پارټۍ مرکزي مشر افضل خان لاله، ایم پي اے ارشد خان، قیصر خان ایډووکیټ، اقبال خیبروال، ریاض خټک او

پاتې صفحه 2 کالم 5

پاتې کبیر ستوري مړے

لائق زاده لائق ورته الوداع وکړه افضل خان لاله په دې موقع ووئیل چې کبیر ستورے نهٔ صرف ادیب او شاعر ؤ بلکې د پښتنو د قومي وحدت د نظریې زبردس

وحدت
چيف ايډيټرو پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت په تصدیق دمنظورعام پریس خیبربازارپېښورنه خپروی، ایډیټر پیر رحمدل شاه
ایډیټر: ظفرعلی شاه ګیلانی، پته:: ورځپاڼه وحدت 20 اسلامیه کلب بلډنګ خیبربازارپېښور ــ فون : ٣١٤٠٣٤ ٣١٤١٥٤ فیکس ٣١٤٣٣١
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pak

دډاکټر کبیر ستوری په مړینه دمختلفو تنظیمونو او شخصیاتو غمرازی

پېښور (وحدت خبر) جرمنی کښې د میشته دپښتو ژبې دنامتو لیکوال شاعر، ماهرنفسیات ، اؤد

باقی صفحه 5 کالم 1

په صدارت کښې وشوه. غونډه کښې په جرمنی کښې مقیم دپښتو د لوئې خدمتګار شاعر کبیرستوری په مړینه د ډیر غم اؤ خفګان څرګندونه وکړے شوه. په غونډه کښې ووئیل شول چې مرحوم په جرمنی کښې دپښتون سوشل ډیموکریټک بانی ؤ. دمرحوم لخوا دویم پښتو عالمی کانفرنس اؤ دعالمی پښتوکانګرس په سیمینارکښې شرکت دپښتوژبې سره دمینې یو ښکاره ثبوت دے. دعالمی پښتو کانګرس ټولو عهدیدارانو د مرحوم کورنۍ سره دهمدردۍ اظهارکړیدے. دپښتون ډیموکریټک کونسل چیئرمین زرعلی موسی زی په خپل یو اخباری بیان کښې د ډاکټر کبیرستوری په مړینه غمرازی ښکاره کړې اؤ وئیلی ئې دی چې ډاکټرصیب دپښتنو نۀ هیریدونکے مبارزؤ. د پښتون د وحدت لپاره دخداې بخښلی خدمات دهیرولو نه دی. دده مړینې سره پښتنو لیکوالانو ته سخته صدمه رسیدلې ده. دۀ د خداې بخښلی کورنۍ سره د غمرازۍ څرګندونه کړیده

پاتې — کبیرستورے، غمرازی

پښتنو دحقونو دمبارز ډاکټرکبیر ستوری په مرګ ټول پښتانۀ په خصوصی توګه ادیبان اؤ شاعران زیات غمژن شویدی. دکامل پښتو ادبی جرګې پېښور صدر ډاکټرشیرزمان طائزی اؤ نورو ملګرو د ډاکټر کبیرستوری په ناڅاپی مړینه دژورې خواشینۍ څرګندونه کړې اؤ دنوموړی مړینه ئې دپښتو ادب اؤ ژبې لپاره یوه ستره ضائع ګرځولې ده. دوی دعا کړیده چې خداې پاک دې دمرحوم مغفرت نصیب کړی. بلخوا افغان خپرندویه ټولنې پېښور هم د ډاکټر کبیرستوری په مړینه ژورخفګان څرګند کړے اؤ وئیلی ئې دی چې نوموړی دپښتو ژبې اؤ ادب لپاره زړۀ پورې خدمات ترسره کړیدی. نوموړی نۀ یوازې په خپله دپښتو سترخدمت کړیدے بلکې نور پښتانۀ ئې هم دپښتو خدمت ته هڅولی دی. دوی دعاکړیده چې خداې پاک دې دمرحوم مغفرت اؤ غمژنې کورنۍ ته د زړۀ صبرنصیب کړی. دعالمی پښتوکانګرس دغمرازۍ یوه غونډه پرون دکانګرس د چیئرمین پروفیسر جهانزیب نیاز

وحدت
چیف ایډیټر، چیف ایګزیکټیو او پبلشر پیرسید سفید شاه همدرد ورځپانه وحدت د پاکستان
ه حکومت په تصدیق د ۸/نشتراباد روډ پېښور نه خپروي، وحدت یوه بې طرفه ازاده اود تولو
پښتنو دهیلو عکاسه ورځپانه ده چې دپاکستان اوافغانستان په شمول دنړۍ په هغوتولو
هیوادونوکښې دتولو پښتورخپانونه زیاته لوستل کیږي چرته چې پښتانه اباد دي
Phone: 091-2214154 091-2214034 Fax 091-2214321
چیف ایډیټر: پیرسید سفید شاه همدرد ایډیټر: سید هارون شاه جوائنټ ایډیټر: سید رحمدل شاه
Website: www.wahdatdaily.com, E-mail: wahdat@pes.comsats.net.pk

د ډاکټر کبیر ستوري د تلین په مناسبت خصوصي خپرونه

که زما ستوری په قبر چرته راشې   په پښتو راته دعا کړه پرې مئین یم (ستوري)

ترتیب: سراج عارف

هو ماته یاد دي یوه ورځ ماته زما محترم مشر افضل خان (خان لالا) وویل هلکه سبا له به زما یو ډیر درونـد او ګران میلمه ستوری د جرمني نه راځی ته به ځان هوائی ډګر ته په وخت ورسوې چې په راتلو کې ورته کوم کړاو پیښ نه شی د خان لالا ددې وینا سره زما د ذهن په پرده ډیر عکسونه الوول شول خوما پکې د ستوری یقین ونـه کړی شو دا د 1996 ع کـال خبره ده چې کله افضل خان لالا د کشمیر د چارو وفاقی وزیر ؤ او زه ورسـره پرایویـټ سـکتروم اولوتکه سحر وختی د اسلام اباد هوای ډګر تـه راورسیده..... او بیا د المـان د ښایسـتونو سـتوری اسلام اباد تـه راغی د هغـه کـور ودانی د هغـه سره وه مـا د ډاکتر کبیر سـتوری پـه سـترګو کې حیاګانی ولـیدی د هغـه په ژونـد کې مې پښتو ولیده د هغه په فکر کې مې قام پرستی محسـوس کړه د هغـه ټـول خویونـه او د هغـه ټـول کړه وړه ماتـه خپل ښکاره شول هم دغـه وجـه وه چې د وخـت رفـتار ستوری ماتـه رانژدی کړو او ما د هغـه پـه خـورو ورو پلوشـو کې د ځان موندنـی کوښښ وکړ. هغه د کونړ د خاوری ځلانده ستوری ؤ چې وړومبی تعلیم نه پس سردار داود خان په دولتی توګه المان ته د پی ایچ ډی د پاره ولیږلو. هغـه چې څنګه پخپله خاوره ښکاره ؤ دغـه شـان ئې پـه جرمنـی هـم د ډاکتری ډیګری پـه امتیاز سره تر لاسه کړه، د خپل وطن او خپلی خاوری نـه لـیری والـی د ستوری پـه مزاج کې یو پټه محرومی پیدا کړه او چې کله هم دغـه محرومی پـه لفظونـو کې ځـای شـوه نـو ساندی ساندی شعرونه ترې جوړ شولکه د لـوی احمـد شاه بابـا د کونړ دغـه کبیر سـتوری هـم هـره لحظه او هره لمحه د خپلې پښتنی خاوری ارمـان وکړو هغـه د خپـل ناکراره احسـاساتو د تکور د پاره په الماغړ راډیو کې د علمی ژوند ابـتدا وکـړه د هغـه مرکـی د هغـه تبصـری او د هغـه ویناګانی پـه هر چا ښـی ولګـیدی او دغـه رنـګ د ستوری ځلا نور هم سوا شوه. هغه هر وخت د پښتون قام په بده ورځ وژړل او چې کلـه ئې دا ارمـان وپـاریدو چې د پښتـون قـام د وحدت د پاره عملی ګام واخلی نو په المان کې ئې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند Pashtoons Social Democratic Party (PSDP) بنـیاد کیښـود. ددې ګوند لویـه فائده دا مینځ ته راغله چې د هــر بې کــوره او مســافر پښتون تـه د سر سیوری تر لاسه شو ډلی ډلی پښتانه ستوری نه راغونډیدل او په خپلو محرومیو او بدمرغـیو بـه ئې جرګې مرکـی کولی. ددغه ګوند غړ پښتونخوا تـه راورسید او بیا ددی منطقی ډیر قـام پرسـت مشـران د سـتوری صیب په بلنه المان ته لاړل او دغه رنـګ کبیر سـتوری د بې کـوره پښـتنو د سیاسـی بیداری د پاره یـو داسـی کوښښ وکـړو چې بـل کوم چا ئې سوچ هم نه وکړی هغه به د فخر افغان باچا خان بابا او د هغـه د ټـولې کورنـی د غـړو نـه علاوه د نورو قامی مشـرانو سره خپلې اړیکې ټینګې ساتلې ولې پـه دی واړو کې ئې د افضل خان لالا سره ډیر ورولی او کور کلی تعلق ؤ. چې کله په افغانستان کې حالاتو بیا بیا چورلکونه وخوړل نو ستوری بـه دې ډیر و درد یدو هغه ټوله ټوله شپه ویښه تیره کړه او د افغانـسـتان د بـیا ودانــی والونه ئې وکړل دا څکه چې هغه پخپل ولـس او خپل قـام مین ؤ. ښاغلی کبیر ستوری د یو سیاسی لارښود سره سره یو قـام پرست شاعر او ادیب هم ؤ. هغـه چې بـه کله هم پښتونخوا ته راغی نو ډلې ډلې پښتنو شاعرانو او ادیبانو به ورسـره ناسـته وکـړه، او د هغـه د سیاســی فکــرونو اثــر بــه ئې

د کونړ ستورے فنا شو

لیک: لائق زاده لائق

واخستو. هم دغه ستوری ؤ چې د پښتو پـه نامـه هر جوړیدونکـی تقریب تـه به په خصوصی توګه د المان نه راتلو هغه په صحافیانو او ژورنالستانو هم ډیر مین، او اکثر بـه ئې ویـل چې دا د پښتنو اصـل سترګې دی چې خپل اولس تـه لار ښائی د پښتنو صحافیانو هم د هغـه سره یوه مینه وه یو تعلق ؤ چې بنـیادی محـور ئې زمونـړ درنـه مور پښتو وه. د ښاغلی کبیر سـتوری درنې درنې خبرې ماتـه اوس هم ښې یادې دی. هغـوی بـه ویـل چې زمونـږ د قام بدبختـی دا ده چې د یـو کـار پـوره کولـو نـه وړاندې چغې جوړې کړو کار سر تـه ونـه رسـی څکـه چې زمونـږ د حقونـو دښمنان د دغـه کـار د وړاندې نه لار ونیسـی څکه نو د وخت نه مخکې چغې وهل خوند نـه کـوی لامـو قـدم د عـمل اخیـ[illegible] نـه وی د مـ[illegible] [illegible]سیدو سـندرې وایـو هغه یو با عمله پښتون ؤ کله چې ورته د المان حکومت بیا بیا وویل چې تـه د جرمنی پاسپورټ واخله نو هغه به ویل چې زه خپل افغانیت بدلولو تـه تیار نـه یم کـه هر څو کبیر ستوری د جرمنی پـه رنګینو کې سـاه ګـانې اخسـتې خـو د پښتونخوا مینې د خپل وطن نـه لـری والـی هغـه د زړه مـریض کـړو

ډېر کاله وړاندې چې کله ډاکټرانو د هغه طبی معاینه وکړه نو ورته حیران شول چې د زړه دوه والونه ئې بې کاره دی او ستوری بیا هم خپله ځلا نه کموی ډاکترانو بیا بیا د عملیاتو (اپریشن) وویل نـو د ښـاغلی کبیر سـتوری د عملیاتو نه کرکه وه هغه به ویل چې مړ به یم خو دې ته تیار نه یم او بیا هم هغسې وشوه چې کله هغه د 3 اپریل 2006ع کال د سه شنبی پـه شپه د خپلو زامنو او خپلو نورو مینه والو سره په خندا خندا خبرې وکړې نو چا هم دا ګمان نه شو کولی چې ګنې دا د کونړ د ستوری اخری پلوشې دی هغه لکه د نور کله په وخت[illegible] شو خو دغه خوب ډیر ازغن ؤ به 4 اپریل 2006ع کال سهار وخ[illegible] هغـه پـه خـوب کې ولـړزیدو

کورودانې ورپسې منډه کړه چې معلوم کړی څه چل پرې شوی دی خو چې د مخ نـه ئې ورله [illegible]ر پورتـه کـړو نـو د لـوې فلسـفی لیکوال شاعر ډاکټر کبیر ستوری دواړه سترګې د خپل وطن پـه ارمان وازې پاتې شوې وې د هغه د ژونـد ملګرې هغـه تـه اوازونـه کول ولی د هغـه ارمانی ارمانی. تښتیدلی رنګ هغی ته ویل چې

زمـا د ژونـد ملـګرې
سـتا پـه جذبـو پوهـ[illegible] [illegible]م
سـتا د لیمـو پـه تـل کې
راغـلی اوښـکې وینـم
خـو غـږ کـولی نـه شـم
مـا خـو ویـل چې زه بـه
زمـا «پـتوال» بـه چـیرتـه
زمـا د سـترګـو وړانـدې
خـپل زلمـی تـوب وینـی
زمـا «پوهـیال» بـه مـا تـه
د خـپل ژونـدون سـندره
پـه تـتـه ژبـه وائـی
زه بـه «پښتیان» پـه ژونـد کې
پـه لـویـدو وینـم
زمـا «سلمـا» او «ښـکلا»
هـم «ننـداره» نیـازبینـه
بـه شـې راپـیغلې چیرتـه
زمـا دا ټـول بچـې بـه
مـا نـه چاپیره ناسـت وی
«سـمون» بـه هم یـو خلـې
وړې خبرې زده کـړی
مـا تـه بـه ټـول بـچوړی
وائـی بابـا نیـازبینـه
لا د ژونـدون پـه لاره
وړانـدې ګامـونـه اخلـم
دغـه ټـالا پښـتون بـه
چـیرتـه راټـول وویـنم
پـه خپـل ټـالا هـیواد کې
بـه د سـپرلو رنګـونـه
خـواره واره وویـنم
زمـا وړه «سـحرانـې»
بـه د وختـونـو سـره
پـه لـویـدو وویـنم
هډو چې غـم ونـه کړې
مـونـږه بـه ټـول لسـتانـه
لکـه د سپرلی خـاریـږو
خـو زمـا د ژونـد ملګـرې
ژونـدون وفـا ونـه کـړه
زه د اولـس غمـونـو
ډیـر زورولـی یمـه
پـه خـپل کـونـړ پسـې زه
ډیـر کـړیدلی یمـه
مـا پـه پـردی وطـن کې
چیرتـه ایسـار چې نـه کړې
زمـا د روح پـه مـری
نـورې چـاړې مـه ږدې
زه خـپل وطـن تـه ځمـه
زه خـپل وطـن تـه ځمـه

(په لیندیو کې بند نومونه ستوري صیب د نمسو دی)

که یو خوا د ډاکتر کبیر ستوری وازو سترګو دغه ساندې ویلی نو بل خوا د هغوی په کور کې ماتم جوړ ؤ د هر چا پـه سترګو کې اوښکو چورلکونه خوړل دغه اطلاع چې پېښور تـه راورسیده نو دلته د هغه مشر خوی ډاکتر بصیر ستوری نه یو دوه خطا شول هغه د خپل پلار په ارمانی ژوند پـه چغـو چغـو وژړل د هغـه مشر ورور وکیل حاجی عبدالجلیل ملنګ لکه د ماشومانو رنې رنې اوښکې توئې کړې هغه دومره قدرې وویل

د مرګ نه خلاصون نشته خو زما ستوری زما کبیر جان ډیر ارمانی مړ شو.

د کبیر ستوری د مرګ خبر په ټوله پښتونخوا کې لکـه د اور لمبې خور شو

13/4/2007

روزنامه وحدت پېښور

13 April 2007

په زړۀ کښې ماته پام دستوری په غزل به کوي

جنرال عبدالصمد مومند

د اتوار ورځ وه موسم ډير خوشګوار ؤ او په دې ورځ مې يوولس بجې امجدخان ته ګرين هوټل ښودلے ؤ، چې هلته به راشي هلته مې له بل چا سره هم وعده وه خو زۀ چې صدر ته راورسيدم په څۀ شی پسې د يو دوکان مخې ته اودريدم چې له مخې مې حاجی نصيرستورے تير شو ما ورپسې غږ وکړو مخ ئې راګرځولو ترروغ جوړ وروسته مې ورته ووئيل د صدر بازار د ورځې يوولس بجې او دچا غږ اوريدل او بيا راګرځيدل څۀ عجيبه خبره نۀ ده؟

هغۀ ووئيل ولې د اتوار ورځ نۀ ده څۀ، چې صدر تش پروت دے ښه حاجی صيب کله راغلے ئې؟ څنګه له راغلے ئې که ستورے صيب هم درسره راغلے دے؟

په دې خبره حاجی نصيرخان غلے شو، رنګ ئې بدل شو. لکه د ښنو نه ئې چې زمکه تښتيدلې وی اخوا ديخوا ئې وکتل يو څو اسويلی ئې وکړل ښکته ئې وکتل لاس ئې په مخ راښکو په تعجب ئې ووئيل: ولې جنرال صيب تۀ خبر نۀ ئې؟

او چې ما څۀ وئيلو ته خلۀ جوړوله بيائې رابانديې يو ډير بد زيرے وکړو چې زۀ هم هک پک او حيران شوم، ولې جنرال صيب تاسو خبر نۀ يئ چې ستورے صيب وفات شوے دے زۀ نور پوهه نۀ شوم چې د غم ددې لوئې خبر په اوريدو به زما له خلې څۀ وتی وی؟ څۀ به مې وئيلی وی؟ دۀ له به مې د داډ خبره کړې وی کۀ نه کۀ رښتيا رابانديې وايئ همدومره مې ياد دی چې حاجی نصير ته مې غيږه ورکړه او تر ډيره مې په غيږ کښې نيولے ؤ خو د هغۀ زړۀ داسې سوړے شوے ؤ چې زما په دې تسلی به د هغۀ څومره سود شوے وی؟ ما ترې د بيدار ستوری پوښتنه هم ونۀ کړه دے رخصت شو زۀ د وعدې ځاې ته ورغلم امجدخان په هال کښې ناست ؤ زۀ هم ورسره کيښناستم څۀ لږه شيبه وشوه بل ميلمه چې د سرګودهې دے کامران صيب هغه هم راغے خو زما طبيعت ډير خراب ؤ امجدخان رانه پوښتنه وکړه څۀ چل دے موډ دې خراب ښکاری په فون چې خبرې کيدې ډير برابر وې ما ورته ټول حال ووئيلو دۀ بې اختياره ووئيل ولې هغه خو روغ جوړ ؤ الله دې وبخښی ډاکټر کبير ستورے خو لوئې پښتون ؤ، ډير ښۀ سړے ؤ تاسو سره د ايران په قونصليټ کښې ليدلے ؤ تاسو چې ورسره زما تعارف وکړو بيا تاسو د بل چا سره په خبرو بوخت شوئ هغوی له ما سره ډيره مينه وکړه ما ورته ووئيل هغه د ايران قونصلګری نۀ ده هغه د ايرن کلتوری مرکز دے "خانه فرهنګ ايران "بيا د دنيا په خبرو سر شو څکه چې يو د بل له غمه نۀ مری او هسې هم د انسانانو دا زړونه جنګونه بمونو، مرګونو، او وينو توئيدو داسې کلک کړی لکه د غوښې په ځائې چې په زړونو کښې تيږی پرتې وی هغه څۀ لږه شيبه د دهغه خفګان هغه احساس هغه بيانوی بيا انسان په خپل ژوند او خپلو کارونو پسې روان شی هر څۀ هير شی بيا څو ورځې وروسته زۀ چرته لاړم هلته يوه غرمه حاجی طفيل صيب ميلمه کړم او دغه غرمه د ستوری صيب سره سره د خادم صيب ،رښتين صيب، وزيرمحمدګل خان مومندبابا دوست محمدخان کامل مومند، قلبندرمومند او نوزو ادبی شخصياتو د خدمتونو ذکر وشو ډيرې ګټورې او خوندورې خبرې وشوې هلته حاجی طفيل صيب نور خلق هم راغوښتی وو چې په هغې کښې يو ډير تاريخی انسان او په هره حواله يو رسيدلے شخصيت حاجی محمداسحاق خان الکوزے ؤ چې دهغۀ سره د هر چا په حواله غوره معلومات وو څۀ رنګ چې ډاکټر کبير ستوری په دغو ورځو شپو کښې په حق رسيدلے ؤ نو ښاغلی الکوزی صيب ئې په ژوند او فن پوره خبرې وکړې په څانګړې توګه دهغوی په يو کتاب (ساپوهنه) باندې.

زۀ چې بيرته خپل هوټل ته راغلم قلم کاغذ مې راواخستو اراده مې وکړه چې زۀ هم په ستوری صيب څۀ وليکم کۀ څۀ هم چې د ډاکټر صيب حق ادا کول او پوره کول ګران بلکې ډير ګران کار دے خو په ډاکټر کبير ستوری ليکل د هغې نه هم ګران کار دے څکه چې په ليک کښې به دستوری له ژوند او فن سره انصاف څوک او څنګه وکړی؟ خو بيا د يوسف (ع) او د بوډۍ د پاغوندې خبره رایاده شوه او له ځان سره مې ووئيل چې تۀ هم څو کرښې تورې کړه معياری نۀ سهی خو وليکه ضرور تر ډيره مې قلم په غاښونو وټکولو په سوچ کښې ناست ؤم چې څۀ وليکم او څنګه ئې وليکم يوه خبره چې ذکر ئې بايد وکړم او هغه دا چې د ژوند ډيرو تيرو مصروفياتو رانه د ادبی دنيا لارې ورکې کړی دی د هغې ژوند چې واقعی ژوند دے له ادب او ادبياتو سره د تړون لارې رانه ورکې شوی دی اول بياست بيا کلومت او بزنس رانه قلم د ګتو اخستے دے.

دا څو کلونه مايوه کرښه هم نۀ ده توره کړې البته شاعری چې کله رابانديې راووريږی هغه په کاغذ زر زر وليکم بيا هغه کاغذ اکثر ورک وی نو ليک او ليکل خکه ګران شوی دی .او کۀ په دې ليک کښې هم څۀ کمے زياتے وی زۀ د هغې هم بخښنه غوارم او بله دا چې ما

وحدت

ورځپانه وحدت پېښور (۵) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷

پام دستوری په غزل به کوې

سره د اروابښاد کبیرستوری د ژوند د حالاتو په اړه هیڅ کتاب نشته او کهٔ دا ووایم چې ددې موضوع خو څهٔ چې د یوې موضوع په رابطه هم راسره کتاب نشته بلکې کهٔ دلته ولټول شی هم د پښتو کوم کتاب به پیدا نهٔ شی.

بیا مې د ځان سره ووئیل چې ستورے خو ستورے وی او د ستوری صیب د ژوند او فن په اړه به دومره علمی مقالې لیکل شوی وی چې دا لیکنه نظرماتے حساب او بلهٔ دا چې کهٔ ددې پیړی، ادبی تاریخ لیکل کیږی او دپښتو ادب په حقله خبره کیږی او په هغې کښې د اروابښاد ډاکټر کبیرستوری ذکر نهٔ وی د هغوې په ژوند او فن خبره نهٔ وی شوی نو دا تاریخ به یو نیمګړے تاریخ وی او زهٔ خو صرف خپل احساسات او تاثرات د کاغذ مخ ته رسوٶم او دپښتنو دا لوئې ستورے د لیکنې او یادونې محتاجه نهٔ دے هغوی ته لوئې الله یو لوئې مقام ورکړے دے چې دا مقام ترې مرګ هم وانهٔ خستلے شو او مرګ د خپل درانهٔ سیوری لاندې ورک او پټ نهٔ کړے شو مرګ هغه کسان د خپل درانهٔ سیوری لاندې پټ او ورک کړی چې د (کلوا وشربوا) پرته ئې په ژوند کښې بل مقصد او مرام نهٔ وی خو هغه چې د ژوند مرام مقصد او موخه په مخ کښې لری د خدمت جذبه ورسره وی خادم او خدمتګار وی مرګ ئې هم د خپل ټول

نور په پنځم مخ

پاتې: پام د ستوری په غزل

زور او قوت سره هم تر خپل درانهٔ سیوری لاندې پټولے او ورکولے نهٔ شی او هغه ژوندی او جاویدان وی ځکه چې د قلم خاوند وی د خپلو خلقو خپلې ژبې خپل ادب خپل کلتور او فرهنګ یو رښتینے خادم وی چې په دې سلسله کښې د یو خدمتګار قلموال او د ادب او سیاست د یو سرخیل ډاکټر کبیرستوری نوم هم د ستائنې او یادولو وړ دے چې د خپل ژوند ډیره برخه ئې د خپلې خوارۍ خو ویاړلی پښتو په خدمت کښې تیره کړه د ادبی او فرهنګی خدمتونو سره سره ئې ډیر ملی خدمتونه هم کړی دی چې تل به په ویاړ سره یادولے او ستائیلے شی د هغوی فن دومره لوئې دے لکه پخپله کبیرستورے او دهغهٔ نرم مزاج د خدمت یوه جذبه دپښتو او پښتنو سره لیونی مینه دا ټولې داسې خبرې دی چې د شخصیت خاوند ته نور شخصیت هم ورکوی او دې ټولو خبرو او خداداد صلاحیتونو ستورے دومره وځلولو هسک کړو او د خلقو د زړونو تل ته ئې کوز کړو چې نور خو پریږده چې شاید د کبیرستوری د تصور نه هم لوړه خبره وی خو زهٔ به دا ووایم چې دا د کبیرستوری حق ؤ بلکې له دې لار د ډیر درناوی حقدار او مستحق وو.

زمونږ د پښتنې ټولنې ژوند په همدغسې انسانانو پورې اړه لری کومه ټولنه چې د ډاکټر کبیرستوری په څیر شخصیات نهٔ لری هغه ټولنه او خلق ژوند نهٔ لری هغه خپله پیژندګلوی نهٔ لری، خپل تشخیص نهٔ لری او زهٔ به دا ووایم چې هغوی تاریخ نهٔ لری او کله چې تاریخ د یوې ټولنې په باب قضاوت کوی د هغې اتکا په عملی شخصیاتو وی او کهٔ د کبیرستوری په څیر دا ادبی هستی نهٔ وې نو نن به دپښتنو او پښتو ادب څهٔ حال وے .خو دا د دوی او د دوی په څیر د نورو ادبی هستیو هڅې دی چې پښتو او پښتو ادب په نړیوال کلی کښې هسک سر ولاړ دی.

پښتو او پښتانهٔ بختور دی چې الله پاک ورته داسې مئینان ورکړی چې ساری نهٔ لری ثانی او مثال نهٔ لری او دا ټول د ویاړ او ستائنې وړ دی او په پای کښې د ډاکټر کبیرستوری د زړهٔ د تل دا سندریز پیغام دا زرین ټکی او حرفونه:........

چې پښتونخوا ته پسرلی د پښتونوالې راوړی

په زړهٔ کښې ماته پام دستوری په غزل به کوې

THE DAILY
WAHDAT
PESHAWAR
ورځپاڼه
پیښور
وحدت
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد
چارشنبه 5 جولائی 2006ء

ډاکټر کبیر ستورے او سندریز پیغام

لیک: فیروزخان صادق

اروانباد ډاکټر کبیر ستورے د ژوند شاعر دے او د ژوند شاعر کله هم نۀ مری بلکې چې ترڅو ژوند وی نو تر هغې به د هغۀ فن هم ژوندے وی او هر پښتون به دخپل دغه اتل شخصیت په کار او زیار ویاړ کوی او دهٔ خدمتونو ته به د ستائنې او ډاډګیرنې امیلونه په غاړه کوی

.خدای بخښلے ډاکټر کبیر ستورے د پښتون قام او ژبې په دنیا کښې یو داسې قدآور او معتبر نوم دے چې دشخصیت فکر او فن اوازې او انګازې ئې په هر لور خورې ورې دی او د هر چا په زړۀ کښې ئې ځان ته ځای جوړ کړے دے دهغۀ سپین سپیځلے شخصیت روڼ روښانه تندے خوږه او پسته لهجه په خبرو کښې دپوهې او علمیت نخښې مهذب او مودب انداز د هر چا احترام او هر چا سره مینه دخپل قام او ژبې د خوشحالۍ او سوکالۍ دپاره هر وخت هلې ځلې د تعلیم د اهمیت او افادیت نه خپل قام خبرول د نوموړی د ژوند تر ټولو لوئې مرام ؤ.

اروانباد د لوړو زده کړو نه پس د جرمنی په هیواد کښې د ډاکټرۍ پیشه خپله کړې وه چې غوښتل ئې له هم دې لارې حخه د انسانیت خدمت وکړی او کۀ چرې مونږ د ډاکټرستوری په ژوند نظر واچوؤ نو هغه پخپل دغه نیک مقصد کښې تر ډیره حده پورې بریالی توب ترلاسه کړے ؤ. هغه یو مستقل مزاجه انسان ؤ ځکه نو په سفر او حضر داخل او خارج شپه او ورځ غرض دا چې هر وخت د خپل مقصد حیات دپاره متحرک ؤ او هغه د انسانیت د خدمت ترڅنګ د خپلې ژبې ادب او خپل قام د پرمختګ او ښیرازۍ فلسفه وه چې نوموړی ددې غرض دپاره خپل ټول خوبونه ارائشونه او سهولتونه قربان کړی وو هغه د پښتون قام د یو والی تعلیم ترقۍ او خوشحالۍ ډیر ارمانی اوداعی ؤ. او هم له دې مقصد دپاره ئې دلیک لوست موثره او معتبره لاره خپله کړې وه او بیا ئې د خپل قام د اسانۍ دپاره د ادب دواړه څانګې نظم او نثر خپل کړی او غوره کړی وو په ذهنی توګه هغه یو انقلابی او بالغ نظر شاعر ادیب ؤ په جسمانی توګه هغه نسبتاً کمزورے ؤ خو خونی ئې دروند او خصلت ئې مضبوط. طبعاً هغه یو چست او چابک سړے ؤ مزاج ئې نرم او نفیس ؤ خبرې ئې خوږې هم وې او درنې هم بلکې ټولې خبرې ئې دکار وې بنیادی طور یو بې ازاره او بې ضرره ؤ او د هر چا سره ئې تعلق او تړون بیخی بې غرضه او بې لالچه ؤ پخپله ئې تعلق د پښتنو د یوسفزو قبیلې سره ؤ خو په مجموعی توګه هر پښتون ئې د سترګو تور اود زړۀ ټکور ګڼلو.

هم دغه وجه ده چې خپل ټول ژوند ئې د پښتو او پښتنو دپاره بخښلے ؤ. او کۀ هغه هر څو د جرمنی غوندې کاروباری ملک او مادی ماحول کښې اوسیدو بلکې هغه په بنیادی توګه د دوؤ پیسو ګټلو

پاتې: ډاکټر کبیر ستورے

په خاطر د مسافرۍ دغه اذیت ناک او کربناک ژوند ته غاړه اینښې وه خو سره ددې ئې خپل قام او خپله ژبه یو ساعت هم له خیاله نۀ ده ویستې او دجرمنی څخه ئې هم د پښتو مطبوعاتو پښتنو شاعرانو، ادیبانو، صحافیانو او نورو اړوندو کسانو سره برابر تماس نیولے دے بلکې په دیار غیر کښې ئې دپښتنو د ترقۍ شناخت او پرمختګ په خاطر دپښتون سوشل ډیموکریټک پارټی جوړه کړې وه چې دخپل قام او ژبې دخدمت په اړوند ئې ډیر فعال او یادګار رول لوبولے دے هم په دې دوران کښې به چې هر کله په افغانستان، پاکستان یا بل کوم هیواد کښې کومه غونډه جوړه شوه نو ډاکټر کبیر ستوری به ارو مرو ځان ور رسولو او دخپل قام او ژبې د نمائندګۍ حق به ئې ادا کولو. په تیره بیا کله به چې پیښور ته راغلو نو دلته به ئې خامخا په ادبی او ثقافتی غونډو کښې هم ګډون کولو او ددې ځای د شاعرانو، ادیبانو، هنرمندانو او صحافیانو نه علاوه به قام پرستو سیاستمدارانو سره هم ئې لیدل کتل کول او د دوی سره به ئې دپښتو ژبې او پښتون قام په موجوده حالاتو اوږدهٔ اوږدهٔ علمی بحثونه کول. او هم دغه ادبی او ثقافتی تعلق او تړون ؤ چې

پاتې برخه بله پاڼه کې

وحدت

ډاکټر کبیر ستوري اوسندریز پیغام

لیک: فیروزخان صادق

پاڼي برخه

دستوري فکر او فن ته ئې لاتوره ښکلا او ځلا ورکړې وه. او هم دغه Coommitment ؤ چې ستورې ئې پخپل مقصد کښې د بریالیتوب تر مقامه رسولے ؤ. او دهغهٔ په فکر او پوهې کښې د پوخوالی او پرخوالی سبب ګرځیدلے ؤ. د اروابښاد د خبرو اکثر موضوع به دپښتون قام ماضی، حال او مستقبل ؤ. هم په دې موضوع به ستوری د هر چا سره بحثونه کول د هر چا وړاندیزونه او دلیلونه به ئې په ډیره توجو او رغبت سره اوریدل. او بیا به ئې ترې د ضرورت په وخت استفاده هم کوله.

هر کله چې د پښتنو په لوئې کور افغانستان روسی یرغلګرو تیرے وکړو او سمسور افغانستان ئې د بارودو په شنو لوخړو کښې لولپه کړو نو د یو افغان په حیث ډاکټر کبیر ستورے هم په دغو لوخړو کښې در په دیکه شو او دحالاتو دغه طوفان ډیر وخوځولو او وې ځنګولو خو دحالاتو مقابله ئې ډیره په جرات او استقامت سره وکړه. په قول د رحمان بابا(رح) چې:

لکه ونه مستقیم پخپل مقام یم

کهٔ خزان راباندې راشی کهٔ بهار

او بیا هر کله چې د جهاد په مقدسه فریضه ترسره کولو افغانانو خپل دښمن ته ماتې ورکړه نو لکه د نورو افغانانو کبیرستورے هم خوشحال شو په دې هیله چې زمونږ هیواد به یو ځل بیا سمسور شی خو متاسفانه چې د روسی تیری نه پس افغانستان کښې خپل منځی جنګونه شروع شول او بیا افغانستان داسې لوټې لوټې شو چې په کنډواله یاد شو خو ستوری بیا هم همت ونهٔ بائیللو او په قول د خوشحال خان ختک چې:

کهٔ اسمان دې د زمری په خلهٔ کښې ورکړه

د زمری په خلهٔ کښې مهٔ پرېږده همت

هم دا وه چې افغانستان د دریو لسیزو د غرغندو او بربادیدو نه پس یو ځل بیا د ابادی او سوکالی په طرف روان شوے دے. او ننس نس افغانان دهجرت نه پس اوس خپل وطن په ډیر عزت او درناوی را ستنیږی. او هیله کیږی چې ډیر زر به ټول افغانان خپل هیواد ته راشی او دخپل وطن د بیا ودانی په کارونو کښې به خپله برخه واخلی او د ډاکټر کبیرستوری مرحوم روح ته به سکون او راحت ورسوی. او د یو ډاکټر کبیر ستوری روح ته نهٔ بلکې د ټولو شهیدانو روحونه به خوشحاله او خندان شی.

د ډاکټر کبیرستوری شخصیت ګڼ اړخونه او رخونه لری ځکه نو دهغوې په شخصیت نور هم ډیر څهٔ وئیلے او لیکلے شی خو دلیک طوالت مې دلارې خنډ جوړیږی ځکه نو دشخصیت او فکر متعلق ئې په ذکر شوؤ خبرو اکتفا کوم او بیا دفن یوه اجمالی خاکه ئې دلته د مثال په ډول ذکر کوم اروابښاد ډاکټر کبیرستورے لکه چې مخکښې وئیل شوی دی چې د یو ښهٔ انسان سره سره یو ښهٔ شاعر او ادیب هم ؤ او بیا د نظم او نثر دواړو په حواله ئې خپل یو ټوم لرلو او تر دې وخت پورې ئې د نظم او نثر تقریباً څهٔ یو درځن کتابونه لیکلی دی چې پکښې زیاتره چاپ شوی هم دی او دا وخت ئې شعری مجموعه سندریز پیغام زما مخې ته پرته ده چې رنګینه سرپانه معیاری کاغذ ۱٤٤ مخونه لری چې په کال ۲۰۰۲ء کښې د پښتونخوا د پوهنې دیره پیښور لخوا په دانش کتابتون کښې چاپ شوې ده ترڅو ئې د پښتو د ټوموړی شاعر او ادیب ښاغلی لائق زاده لائق په ټوم شوے دے او سریزه پسری پروفیسر اباسین یوسفزی لیکلې ده چې پکښې ئې د ښاغلي کبیرستوری د فکر او فن ښه کوټلې جائزه اخستې ده.

هر کله چې مونږ د اروابښاد کبیرستوری ددې شعری مجموعې مطالعه کوؤ نو را ته ددهٔ د فن ګڼ رنګونه او قسمونه په نظر راځی چې پکښې مینه، محبت، میړانه، جرات، پښتونولی، وطن دوستی، لوظ، حسن او جمال، غم د جانان او غم د دروان، لنډه دا چې د ژوند په هر اړخ پکښې شعرونه په نظر راځی چې یو طرف ته دشاعر په فهم او فراست دلالت کوی او بل طرف ته زمونږ د تکورونو کار کوی.

د کتاب وړومبے شعر ئې دا دے:

ګناه د بل چا نهٔ ده دا زمونږ خپله ګناه ده

پښتو پښتونولی ته اړولې چې مو شا ده

ددې شعر نه دا اندازه په اسانی سره لګیدے شی چې ښاغلے شاعر پخپل قام او خپله ژبه څومره مئین دے ځکه چې صرف دا یو شعر نهٔ بلکې پوره غزل ئې د هم دې موضوع نه ځار کړے دے هم دغسې ئې په ټول کتاب کښې زیات تر کلام په پښتو او پښتونولی مشتمل دے لکه چې یو بل ځاې کښې وائی:

بې پښتو نهٔ شی په پښتو باندې پښتو به کوې

د مینې ستورې ته د خپلې پښتو رنګ ورکړه

او یا دا چې:

چا چې ده لیدلې په ستائیلو ئې مړېږی نه

یو خوا ئې ښائست دے بل صفت د پښتو کوی

کهٔ څهٔ هم د ستوری د شاعرۍ مرکز او محور پښتو او پښتونولی ده خو ددې ترڅنګ هغهٔ په هره موضوع قلم پورته کړے دے چې د نمونې څو شعرونه ئې داسې دی:

د عشق کار کښې دهر چا ده بیله برخه

د چا ستورے دے تیارهٔ د چا ځلیږی

د ګل ښائست نه چې په بڼ کښې بلبلان ځاریږی

پور دې ورکړے دے کهٔ ګل د ښائست غلا کړې ده

کلی نه وځی خوله اولسه وتل نهٔ منی

تل په ټولنیز ژوند کښې انصاف او عدالت غواړی

چې دبخت ستورے مې دعشق اسمان کښې وځلیدو

خدائیګو د کلی لویو وړو راته دعا کړې ده

ددې شعرونو په اساس مونږ دا خبره په ډانګ پیللې کولے شو اروابښاد ډاکټر کبیرستورے د ژوند شاعر دے او د ژوند شاعر کله هم نهٔ مری. بلکې چې ترڅو ژوند وی نو تر هغې به د هغهٔ فن هم ژوندے وی او هر پښتون به دخپل دغه اتل شخصیت په کار او زیار ویاړ کوی او ددهٔ خدمتونو ته به د ستائنې او ډاډګیرنې اصیلونه په غاړه کوی.

ما وې چې زهٔ به د جانان ښکلے تصویر جوړؤم

زهٔ اعتراف د عجز ؤ فن کړم ما تصویر جوړ نهٔ کړو

ts.net.pk

وحدت

چیف یډیټر، چیف ایګزیکټیو، پبلشر پیر
چیف ایډیټر: پیرسید سفیدشاه همدر

وحدت د ټولو پښتنو دهیلو عکاسه ورځپاڼه ده . چې دپاکستان او افغانستان په شمول دنړۍ په

پیر(دوشنبه) 12 فروری 2007

د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري ژوند، شاعري، او اثارو ته یوه لنډه کتنه

شاعر او لیکوال د خپلې ټولنې ترجمان وي، ښهٔ اوبریالے شاعر، لیکوال هغه دے چې د ټولنې په نبض او ژبه پوهیږي .د ټولنې په ژبه وګړیږي .د خپلې ټولنې دودونه تشخیص او دهغې د علاج لپاره درمل تجویز کړي .په ټولنه کښې د فساد، ظلم او ناخوالو په وړاندې قلم وچلوی .هغه راوسپړي او اولس بیدار کړي کهٔ په لنډو ټکو کښې ووایو :هنر د

معاون محقق وجیه الله شپون

هنر له پاره نهٔ بلکې هنر د ژوند لپاره استخدام او ژوندنی مسائیل پرې سمبال کړي .کهٔ څهٔ هم په ژوند دغسې متعهدو او ملتزمو لیکوالانو او شاعرانو ته دخلقو پام نهٔ وي، خو کله چې د مرګی سیلی ئې قلم له ګټو پریباسی نو بیا د خوشحال خان د غه خبره ربښتیا شی:

د خوشحال قدر کهٔ اوس په هیچا نشته
پس له مرګه به ئې یاد کا ډیر عالم

خبره نن دهغه شاعر کوؤ د چا چې مینه پښتو، وینه پښتو، وینا پښتو وه، ښکلی ئې هم پښتانهٔ خوښیدل، د شاعري پوده او تنسته ئې هم ټوله پښتو او پښتونولي وه .دا شاعر اروابناد ډاکټر کبیر ستورے دے چې د نن څخه ۲۴ کاله وړاندې د ۱۳۲۱ ل کال د وری د میاشتې په ۱۷ نیټه د کونړ ولایت د خاص کونړ اولسوالۍ د تنر په کلی کښې ئې نړۍ ته سترګې غړولې وې، دے د لعل محمدخان زوې په ختېه میردادخیل یوسفزے دے، لومړنی زده کړې ئې د خاص کونړ په لومړنی ښوونځی او د کابل بابا په لیسه کښې وکړې لوړې زده کړې ئې د جرمنی د فرانکفورټ، کولن او دمار بورګ په پوهنتونونو کښې د اروا پوهنې په څانګه کښې د دوکتور یا پی ایچ ډی ترکچې بشپړې کړې .د ۱۹۷۰ کال راپدیخوا د کړنې د ساپوهنې د نړیوالې ټولنې غړے ؤ ستورے د پښتون سوشل دیموکرات ګوند مشر او ددې ګوند د بنسټ ایښودونکو مخکښانو څخه ؤ .ددهٔ د وینا لهٔ مخې د شاعرۍ په نړۍ کښې ئې تر ټولو زیات د اجمل خټک نه الهام اخستے او د پښتنو د یووالۍ، خپلواکۍ او سوکالۍ لپاره دهٔ ته د باچاخان نظر یو ژوند وربښلے دے .ډاکټر کبیر ستورے د ۲۰۰۲ زیږدی کال د اپریل په څلورمه نیټه په جرمنی کښې له دې نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې او په خاص کونړ کښې د خپلې پلرنی هدیرې په غیږ کښې خاورو ته وسپارل شو .روح دې ئې ښاد او اباد وی.

اروابناد ستوری خپل علمی او فرهنګی ژوندانهٔ کښې لاندې اثار په میراث کښې پریښی دی:

ویره :) د اروا پوهنې په رڼا کښې د ویرې نظری پیمانه او درمل) جرمنی ۱۹۹۴ :

ژوندی خیالونه (شعری ټولګه) پیښور ۱۹۹۷

د قلم توره (شعری ټولګه) پیښور ۱۹۹۹

د هوښیارتیا تله(اروا پوهنه) پیښور ۲۰۰۰

ژبساپوهنه (اروا پوهنه) پیښور ۲۰۰۰

سندریز پیغام (شعری ټولګه) پیښور ۲۰۰۰

د هوښیارتیا کلتوری بې پلوه تله(پیښور ۲۰۰۴

او نور کتابونه

د اروابناد ستوری شاعری ټوله د



پښتو او پښتونولۍ په خم کښې رنګ او په اصطلاح د شاعرۍ ټول تاروپود ئې پښتنی دی .ددهٔ د شاعرۍ بله ځانګړنه رواني او سلاست دے، تعقید، ابهام، او پیچلی کلمات او الفاظ نهٔ لری. ساده او روان لفظی انځورونه جوړوی .د افادې ژبه ئې فصیحه ده بې ځایه نهٔ وی کهٔ ووایو هغه څوک چې څهٔ نا څهٔ سواد ولری، ددهٔ د اشعارو په مضمون او محتو پوهیدے شی.

ددهٔ اشعار د فورم او شکل له مخې د غزل، څلوریزې او ترجیع بند په فورمونو کښې ونیل شوی دی او یوه نیمه قصیده هم ددهٔ په شعری ټولګو کښې موندل کیږی.

اروابناد ستوری په پښتو او پښتونولۍ ستر سره د مینې او محبت شاعر دے، په مینه کښې د انسان نیکمرغی نغښتې ګنی او عبادت ته د مینې نوم ورکوی .په ربښتیا هم انسان یو خاصه مینه د الله پاک عبادت ته اړتیا لری چې پایله ئې په همیشنو نیکمرغیو کښې ښوبیدل دی دے وائی:

محتاج کله د انسان د زیار زحمت دے
بې نیازه دے د خدای بې شان قدرت دے
عبادت د مینې نوم دے دا منمه
نیکمرغی د انسان مینه محبت دے

همدا رنګ متقابل احترام او درناوے هغه څهٔ دے چې د ټولنې راشه درشه، اړیکې او ورورولی پرې ټینګیږی .کرکه او نفرت کموی، د تربګنۍ او دښمنۍ په اور اوبهٔ اړوی او د ټولنیز ژوندانهٔ مهم اصل دے .دې اصل ته داسې اشاره کوی:

راپاتې له لویانو دا پیغام دے
چې د بل په درناوی کښې دروند مقام دے
کهٔ نظر دې خپل اوچت ساتې نو پوهه شه
چې لازم د بل نظر ته احترام دے

اروابناد ستورے هدف ته په رسیدلو کښې عمل او جرات ته ترجیح ورکوی .نهٔ خلې او نهٔ وینا ته، ځکه وینا هغه وخت وزن پیدا کوی چې د عمل په کانی وتللے شی .د انسان دبریالیتوب راز د هغهٔ په جرات، عمل او تحرک کښې نغښتے دے، کهٔ زمرے بې تحرکه شی نو بیا خو خلق په حقه د پروت زمری نه ګرځنده ګیدړه ښهٔ ګنی دے وائی:

لړ د نشت نه ډیر دی کهٔ ټول نهٔ وی لړ به تل کوی
رسی به منزل ته چې ولاړ نهٔ ئې مزل کوی
غیږ ته دجانان ورتلهٔ جرات عمل خوخښت غواړی

چیف ایډیټر: پیرسفید شاه همدرد

پاتې برخه

د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري ژوند، شاعري او اثارو ته لنډه کتنه
لیکوال: مرستیال څیړونکی وجیه الله شپون
12 February . 2007

هسې په خلهٔ نهٔ شی چې په خلهٔ ورته ورتلل کوی

خو ددې سره سره کهٔ سړے خپل مقصد ته ونهٔ رسیږی، شاعر په مقدراتو او ازلی برخه باندې پوره معتقد دے او وائی:

یو وئیل په تنده ده په منده نهٔ ده
بل وئیل په منده ده په تنده نهٔ ده
ستوری وئیل ما ته خو دا سمه برېښی
په دواړو ده په یو کښې غونډه نهٔ ده

یوه بله خبره چې ډیره د پام وړ ده هغه دا ده چې ډاکټر ستوی په مسلکی لحاظ د اروا پوهنې متخصص او په جرمنی کښې اوسیدو، دے په دې پوهیدو چې محیطی عوامل د ماشومانو په شخصیت جوړنه کښې څومره رول لری؟ په لویدیزو هیوادونو کښې کورنے نظام څنګه دے؟ کوم افغان چې هلته تللے د دوی ماشومانو خپله ژبه، کلتور، او پښتنی خصوصیات تر کومې کچې ژوندی ساتلی دی؟ دې موضوع ته په پامرنې سره ددهٔ د لاندینو بیتونو څخه داسې څرګندیږی چې په دې برخه کښې ئې خپلو اخلاقو ته هم تشویش درلودو ځکه وائی:

رنګ به د پښتو مینې ته ورکړمه
دا پردیس بچے به خپل راخپل کړمه
پوهه به پوهیال سره ملګری کړمه
پت به د پتوال د پتکی ول کړمه
تل خو به خاطر د خاطرې کوم
ښکلې رانژدې شه چې دې ښکل کړمه
خیال به په" سوما "او په" هما" ساتم
پوخ به په" یما" "سنګر "مورچل کړمه
دې پردی وطن کښې چې پردے نهٔ ئې
پام به په روزنه د" ایمل "کړمه

د اروابناد ستوری په شاعری کښې د اجتماعی او اخلاقی روزنې درسونه هم شته چې ټولو خلقو او په ځانګړې توګه ځوانانو ته ډیر ارزښتناک دی لکه چې وائی:

د بل زړهٔ ازارول چاره خطا ده
خو ازار د مور و پلار لویه ګناه ده
چې ازار د مور او پلار وی څوک وهلے
نور په ...

پاتې کبیر ستورے 2

د بخت ستورے ئې تور تم وی دا ربښتیا ده
او یا دا چې:
تیر چې شو تاریخ شو خیال د نن او د سبا کوه
هر کار د ملګرو مشرانو په صلاح کوه
پام کوه په نوی کول چې دا ګلان تالا نهٔ شی
هر څهٔ چې کوې سوچ د ژوندون د پرمختیا کوه

په انتقادی برخه کښې هم شعرونه لری چې لاندې بیتونه ئې د بیلګې په توګه راوړو، په دې بیتونو کښې په هغه خائنانو پښتنو چې په رسمی او دولتی منصب کار کوی خو دپښتو ژبې د تصمیم او ترقۍ په غم کښې نهٔ دی، داسې اشاره کوی:

ګناه د بل چا نهٔ ده دا زمونږ خپله ګناه ده
پښتو، پښتونولۍ ته اړولې چې مو شا ده
پښتون چې څوک کړی مشر او خاوند شی د کرسی
هغه بس ما ته کړې ددې خپلې پښتو ملا ده
او یا دا چې:
مونږه پښتو نهٔ ده پاللې ملامت خپله یو
له خپل دفتره مو ویستلې ملامت خپله یو
واکمن په وینه پښتانهٔ دی خو پښتو نهٔ کوی
نهٔ ئې لیکلې، نهٔ وئیلې ملامت خپله یو

د اروابناد ستوری دعلمی او فرهنګی شخصیت په ټولو ابعادو باندې خبرې کول ددې لنډې تنګې یادونې له حوصلې وتلې خبره ده، زهٔ هیله مند یم چې په راتلونکې کښې به زمونږ ښاغلی قلم وال، ددغې علمی او فرهنګی شخصیتونو د نمانځنې او درناوی په لړ کښې په دوی ډیر څهٔ ولیکی، زهٔ دخپلې لیکنې لمن ددهٔ په لاندې بیتونو رانغاړم:

دا دستور دے چې لومړے پیژند د خان شی
پس له هغې بیا پیژند د نور جهان شی
چې پخپله پښتو ژبه لیکل نهٔ کړی
دا لیکوال دې د نالوستی نه قربان شی

دعالمي پښتو کانفرنس اوانجمن ترقي پسند مصنفين دغمرازۍ غونډه

داعظم بيګ دموراوسيد ظفرعلي شاه ،کبيرستوري ،قمرطائزي، تکريم الحق کاکاخيل په مړينو غمرازي

پېښور (پ ر) دعـالمي پښـتو کـانفرنس اوانجمـن ترقـي پسـند مصنفين يوه مشترکه د غمرازۍ غونـډه د کـانفرنس دچيـرمين

باقي صفحه 5 کالم 3

پاتې: عالمي پښتوکانفرنس غونډه

سليم راز صدارت کښې وشوه . چې پکښې دورځپاڼې مشرق چيف ايډيټرسيد اياز بادشاه دتره سيدظفرعلي شاه اودپښتو ،اردو اوانګريزۍ دنامتو اديب صـحافي اودمياشـتينې ډپلوميټ چيـف ايـډيټراعظم بيګ دمور بې بي په مړينه دغم اؤ خفګـان حرګندونـه وشـوه. اجـلاس کښـې دمرحومينـو دبخښنې اوپسماندګانو ته ددې غم دزغم دپاره دعا وشوه. ديو قرارداد په ذريعه دافغان سوشل ډيموکريټـک پـارټۍ دمشـر، دپښتو اوفارسۍ نامتو دانشور، کبيرستوري، دپښـتونامتواديب سـيدتکريم الحـق کاکاخيـل المعروف روغ ليوني نامتوشاعر اوطنـز نګـار قمرزمـان قمـر په مړينه دغم اؤخفګان څرګندونه شوې ده. قـرارداد کښـې ددريو واړو پوهـانو د علمـى ،ادبـى ،سـماجي اوسياسـى خـدماتو ستائينه شوې ده. او وئيلي شوى دى. چـې دادپښـتو ژبـې ادب اوپښتون قام دپاره يو لوئې تاوان دے. اجلاس کښـې دنـورو نـه علاوه سيدسيف الرحمان سليم سـراج خـان ، انورزيـب ،روبنـا يوسفزئى ، ډاکټرسهيل انشاء ، حنيف خليل هم موجود ؤو.

وحدت
07.04.06

موږ د پاره هم الله کافي دی او هغه تر ټولو بهتر مدد ګار دی (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

رجسټرډ ایل نمبر ۲۷

فون: 2214154 فیکس: 2214321 بیعه 4 روپۍ

جلد: 31 | دوشنبه (پیر) 9 ربیع الثاني، 1427 هـ ق، 30 وېساک، 2063 ب، 8 مۍ 2006ء، 18 ثور (غویی)، 1385 هـ ش | شماره: 124

دژبې ترقي سره د قام ترقي تړلې ده، افضل خان لاله

پښتو عالمي کانګریس او غني خان پښتو ادبي تحقیقي ثقافتي جرګې د ډاکټر کبیر ستوري او قمرزمان قمرطائزي یاد کښې ریفرنس وکړو

د پښتو ژبې او ادب دودې لړ کښې به د ډاکټر ستوري او قمرزمان طائزي خدمات تل یاد ساتلے شي، مقررین

د عوامي نیشنل پارټۍ مشر افضل خان لاله او نور یو دستوره کښې شریک دي

پېښور (وحدت خبریال) دعوامي نیشنل پارټۍ مرکزي مشر محمد افضل خان لاله وئیلي دي. چې د پښتو ژبې د روزنې پالنې او ددې دژوندي ساتلو دپاره چې شاعرانو، ادیبانو او لیکوالو د وسائلو د نشتوالي باوجود کومې قرباني ورکړیدي. او د پښتون قام د وحدت دپاره ئې کوم فعال کردار ترسره کړے باید هغې ته د قدر په نظر وکتل شي. پښتون یو داسې بدقسمته قام دے. چې په سوونو کاله اقتدار کښې پاتې شوید ے. خو ژبه ئې اقتدار کښې پاتې نۀ ده. دژبې ترقي سره د قام ترقي تړلې ده. ددې خیالاتو څرګندونه دۀ تیره ورځ د مشر میلمه پۀ حیث د پښتو عالمي کانګریس او غني خان ادبي، تحقیقي، ثقافتي جرګې په اشتراک د پښتو دستر شاعر، نقاد او محقق اروابناد د قمرزمان قمرطائزے او پوهاند لیکوال اروابناد ډاکټر کبیر ستوري پۀ یاد کښې پېښور پریس کلب کښې شوې درنې دستورې ته دخطاب په وخت کړې ده. د دستورې صدارت پروفیسر جهانزیب نیاز کولو. افضل خان لاله د کبیر ستوري او قمرطائزے روح ته د دوی دادبي خدماتو په ترسره کولو نیکې پیرزوئنې وړاندې کړې او وې وئیل چې پښتانه باید د دوی پیغام خور کړي او ټول عمر کبیر ستورے او قمرطائزے پۀ خپلو ذهنونو او زړونو کښې ژوندے وساتي. دستورې ته دخطاب په وخت د دستورې صدر د پښتو عالمي کانګریس چیرمین پروفیسر جهانزیب نیاز، لائق زاده لائق، ډاکټر شیرزمان طائزے، مبارز ځاپي، د ورځپانې وحدت نیوز ایډیټر میا فاروق فراق، محمد اصف صمیم ایم پی اے ارشد خان او نورو پوهانو د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري او اروابناد قمرزمان قمرطائزے پۀ ژوند او خدماتو رڼا واچوله. پۀ دې موقع د سټیج سکتر فرائض شبیر دراني ترسره کړل د ستوره کښې د شهاب الدین خټک، د ورځپانې وحدت سب ایډیټر امجد علي خادم، انفارمیشن افسر او ستر لیکوال لیاقت امین، حمید الرحمان نادان، شمشیر هیواد، فریدون خان او د ګل محمد مسرور او مطهر شاه طاهر نه علاوه د چارسدې، مردان، صوابي، کوهاټ، پېښور او خواؤشا نورو علاقو دادبي تنظیمونو نمائندګانو او افغان لیکوالو هم ګډون وکړو.

مونږ د پاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد کار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

رجسټرډ ایل نمبر ۲۷

بیعه 4 روپۍ

فون: 2214154 فیکس: 2214321

جلد: 31

یکشنبه (اتوار)، 8 ربیع الثاني، 1427 هـ ق، 29 ویساک، 2063 ب
7 مۍ 2006ء، 17 ثور (غوایے)، 1385 هـ ش

شماره: 123

ډاکټر کبیر ستوري او قمر طائزي یادګښې ریفرنس نن کیږي

دریفرنس تابیا پښتو عالمي کانګرس او غني خان پښتو ادبي تحقیقي جرګې کړېده

پېښور (پ ر) د پښتو عالمي کانګریس او غني پښتو ادبي، تحقیقي او ثقافتي جرګې په اشتراک د پښتو ژبې د نومیالي شاعر محقق او روانښاد ډاکټر کبیر ستوري او د پښتو د خیر نکار شاعر، ادیب او سترلیکوال او روانښاد قمرزمان قمر طائزي په یاد کښې ریفرنس نن ماذیګر دري بجې پېښور پریس کلب کښې کیږي. دې دستوره کښې به نومیالي لیکوال او پوهان د کبیر ستوري او قمر طائزي په علم او فن او ادبي خدماتو رڼا اچوي پښتو ادبي حلقو او تنظیمونو سره تعلق لرونکو او د پښتو ادب د کور کسانو ته دې دستوره کښې د ګډون بلنه ورکړے شوې ده.

MEMBER APNS | MEMBER CPNE | MEMBER FEC

Wahdat@pes.comsats.net.pk

ABC CERTIFIED

مونږ دپاره هم الله کافی دے او هغه تر ټولو بهتر مددګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
وحدت

پیښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

رجسټرډ پي نمبر ۲۷

بیعه 4 روپۍ

فون: 2214154 فیکس: 2214321

پنجشنبه (زیارت)، 14 ربیع الاول، 1427هـ ق، 1 ویساک، 2063 ب
13 اپریل 2006، 24 وری (حمل) 1385هـ ش

جلد: 31 | شماره: 99

دکبیرستوری فاتحه په ۱۵ اپریل اخستل کیږی

په ځلورم اپریل جرمنی کښې داروانښاد دژوند ډیوه مړه شوه



پیښور (وحدت خبر) دپښتو دنومیالی شاعر، ادیب او جرمنی کښې د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټۍ دبانی مرحوم ډاکټر کبیرستوری فاتحه خوانی داپریل په پنځلسمه په یونیورسټی روډ سپین جومات

باقی صفحه 5 کالم 5

پاتې: فاتحه خوانی

کښې سحر د اتو بجو نه ماسپښین دوؤ بجو پورې کیږی. کومه کښې چې ټولو ملګرو او د پښتو شاعرانو، ادیبانو ته دګډون بلنه ورکړے شوې ده، مرحوم د تیرو څلور څلویښتو کالو راسې جرمنی کښې میشتهٔ ؤ. دې دوران کښې مرحوم د پښتو ژبې د ودې او پښتون قوم په یوپلیټ فارم جمع کولو کښې اهم کردار ترسره کړو. مرحوم د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټۍ پی ایس ډی پی په بنیاد کیښودلو پردی وطن کښې د پښتون ثقافت او روایاتو حفاظت وکړو. مرحوم دشاعری او روحیاتو پهٔ موضوع دیارلس کتابونه لیکلی دی چې علمی او ادبی حلقو کښې ورته لوئې داد ترلاسه دے، ډاکټر کبیرستورے تیریو کال راسې د زړهٔ پهٔ رنځ اختهٔ ؤ. او داپریل پهٔ څلورمه د زړهٔ دورې ئې د ژوند ډیوه مړه کړه. پهٔ ۷ اپریل دهغه مړے پیښور ته راوړل شو چرته نه چې خصوصی انتظاماتو سره کفن دفن کولو دپاره افغانستان کښې خپل پلرنی کلی کونړ ته ورسولے شو. دمرحوم پهٔ جنازه کښې دافغانستان حکومت د شمیر کسانو نه علاوه دعلاقې معززینو ګڼ شمیر کښې ګډون وکړو.

MEMBER APNS | MEMBER CPNE | MEMBER FEC
Wahdat@pes.comsats.net.pk

مونږ دپاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مددګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

ABC CERTIFIED
رجسټرډ پي نمبر ۲۷

بیعه 4 روپۍ
فون: 2214154 فیکس: 2214321

جلد: 31
یکشنبه/اتوار، 17 ربیع الاول، 1427هـ ق، 4 ویساک، 2063 ب
16 اپریل 2006ء، 27 ورے (حمل) 1385هـ ش
شماره: 102

دډاکټر کبیر ستوری فاتحه سپین جومات کښې واخستل شوه

دفاتحې مراسمو کښې اجمل خټک، افضل خان، حاجي بلور، استاد صمیم او نورو ګڼو مشرانو برخه واخسته

پېښور (پ ر) د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټۍ د صدر ډاکټر کبیر ستوری فاتحه تیره ورځ سپین جومات کښې واخستل شوه. چې پکښې د اے این پی بزرګ مشر اجمل خټک، محمد افضل خان لالا، حاجی غلام احمد بلور، بشیر احمد بلور، میا افتخار حسین، سید عاقل شاه، تاج الدین، پیر فیاض علی شاه، ارباب طاهر، ملک مصطفی، ارباب محمد همایون خان، ارباب محمد نثار، قیصر خان ایډوکیټ، خیال اکبر اپریدی، محمد حنیف ایډوکیټ، فرید طوفان، استاد محمد اصف صمیم، ډاکټر شاه جهان، ارباب دوست محمد خان، لیاقت سیماب، وکیل غلام محمد صافی، محمد هاشم غمشریک، د افغان قونصلګرۍ دوهم سکتر احمد سعید سعیدی، داریانا پوهنتون رئیس دانشمل، د افغان اسلامی اژانس رئیس محمد یعقوب شرافت، قومی مشر حاجی پیر محمد ګردیوال، محمد عثمان زیارمل او دیو شمیر عالمانو، پښتنو شاعرانو، ادیبانو نه علاوه ګڼو دانشورانو او باریک بینو او سیاسی کارکنانو ګډون وکړو. په دې موقعه دمرحوم ډاکټر کبیر ستوری دبخښنې دپاره دعا وکړے شوه.

ورځپانه وحدت پېښور صفحه 7 16 اپریل 2006

MEMBER APNS | MEMBER CPNE | MEMBER FEC
Wahdat@pes.comsats.net.pk
ABC CERTIFIED
مونږ دپاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد ګار دے (القرآن)
Daily wahdat Peshawar
چيف ايډيټر
پير سيد سفيد شاه همدرد
ورځپانه
وحدت
پيښور
پاکستان
ايډيټر
سيد هارون شاه
رجسټرډ پي نمبر ۲۷
فون: 2214154 فيکس: 2214321
جمعة المبارک، 24ربيع الاول 1428هـ ق، 31جيټ، 2063، جلد نمبر 32
13 اپريل 2007ء، 24ورے (حمل) 1386 هـ ش، شماره 99، بيعه 5 روپۍ

د ډاکټر کبير ستوري ياد کښې سيمينار او مشاعره نن کيږي.

پيښور (پ ر) دعالمي پښتو کانګرس د بندوبست لاندې دمشهور ادبي شخصيت ډاکټر کبير ستوري مرحوم په ياد کښې سيمينار او مشاعره نن کيږي .دې لړ کښې پرون دکانګريس اهمه غونډه وشوه. چې پکښې دغه دستورې له اخري شکل وکړے شو. دستوره به پريس کلب پيښور کښې درې بجې شروع کيږي .دکانګريس غونډه کښې د ستر اديب صاحب شاه صابر په مړينه د ډير غم او خفګان اظهار وکړے شو. اودمرحوم د بخښنې دپاره دعا وکړے شوه.

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپانه پېښور

وحدت

ورځپانه وحدت پېښور صفحه 2 | 6 اپریل 2006

ورځپانه وحدت پېښور

د کونړ "ستورے" پناه شو

لیک:: لائق زاده لائق

هو ماته یاد دی...... یوه ورځ ماته زما محترم مشر افضل خان لاله ووئیل، ((هلکه سباله به زما یو ډیر درونډ اؤ ګران میلمه ((ستورے)) د جرمنی نه راځی. ته به ځان هوائی ډګر ته په وخت ورسوې. چې په راتلو کښې ورته کوم کړاؤ پیښ نۀ شی)). د لاله د دې وینا سره زما دذهن په پرده ډیر عکسونه الوول شول. خو ما پکښې د ((ستوری)) یقین ونۀ کړے شو. دا د کال ۱۹۹۲ خبره ده چې کله افضل خان لاله د کشمیر دچارو وفاقی وزیر ؤ. اؤ زۀ ورسره پرائیوټ سکتر ووم. الوتکه سحر وختی د اسلام اباد هوائی ډګر ته راورسیده.... اؤ بیا د المان د ښائستونو نه ستورے اسلام اباد ته راغے. دهغه کوروداني هم دهغه سره وه. ما دستوری په سترګو کښې حیاګانې ولیدې. دهغه په ژوند کښې مې ((پښتو)) ولیده. دهغه په فکر کښې مې قام پرستی محسوس کړه. دهغه ټول خویونه اؤ دهغه ټول کړۀ وړۀ ماته خپل خپل ښکاره شول. هم دغه وجه وه چې د وخت رفتار ستورے ماته رانزدې کړو اؤ ما د هغه په خورو ورو پلوشو کښې دځان موندنې کوشش وکړو.

هغه د کونړ د خاورې ځلنده ستورے ؤ چې د وړومبی تعلیم نه پس سردار داؤد خان په دولتی توګه المان ته د پی ایچ ډی دپاره ولیږلو. هغه چې څنګه په خپله خاوره ښکاره ؤ. دغه شان ئې په جرمنی کښې هم د ډاکټرۍ ډګری په امتیاز سره ترلاسه کړه.

دخپل وطن او خپلې خاورې نه لرې والی دستوری په مزاج کښې یوه پټه محرومی پیدا کړه. او چې کله هم دغه محرومی په لفظونو کښې ځاې شوه نو ساندې ساندې شعرونه ترې جوړ شول. لکه د لوئې احمد شاه بابا د کونړ دغه ((کبیرستوری)) هم هره لحظه اؤ هره لمحه دخپلې پښتنې خاورې ارمان وکړو. هغه دخپل ناقراره احساساتو د ټکور دپاره په

هغه یو باعمله پښتون ؤ. کله چې ورته د المان حکومت بیا بیا ووئیل چې ته دجرمنی پاسپورټ واخله نو هغه به وئیل چې زۀ خپل افغانیت بدلولو ته تیار نۀ یم.

المان غږ راډیو کښې دعملی ژوند ابتدا وکړه. دهغه مرکې، دهغه تبصرې اؤ دهغه وینا ګانې په هر ځا ښې ولګیدې اؤ دغه رنګ دستوری ځلا نوره هم سیوا شوه.

هغه هر وخت دپښتون قام په بده ورځ وژړل. او چې کله ئې دا ارمان را وپاریدو چې دپښتون قام د وحدت دپاره عملی ګام واخلی نو په المان کښې ئې د پښتون سوشل ډیموکریټک ګوند بنیاد کیښودو. د دې ګوند لویه فائده دا مینځ ته راغله چې هر بې کوره اؤ مسافر پښتون ته دسر سیورے ترلاسه شو. ډلې ډلې پښتانه ستوری نه راغونډیدل اؤ په خپلو محرومیو اؤ بدمرغیو به ئې جرګې مرکې کولې.

ددغه ګوند غږ پښتونخوا ته راورسیدو. اؤ بیا ددې منطقې ټول قام پرست مشران دستوری صیب په بلنه المان ته لاړل. اؤ دغه رنګ کبیرستوری دبې کوره پښتنو دسیاسی بیدارۍ دپاره یو داسې کوشش وکړو چې بل کوم چا ئې سوچ هم نۀ ؤ کړے. هغه به دفخر افغان باچا خان اؤ دهغه د ټولې کورنۍ د غړو نه علاوه دنورو قامی مشرانو سره خپلې اړیکې ټینګې ساتلې. ولې په دې واړو کښې ئې د افضل خان لاله سره د ورورۍ اؤ کور کلی تعلق ؤ.

چې کله په افغانستان کښې حالاتو بیا بیا چورلکونه وخوړل نو ستورے په دې ډیر وردریدو. هغه ټوله ټوله شپه ویښه تیره کړه اؤ د افغانستان د بیاودانۍ سوالونه ئې وکړل. دا ځکه چې هغه په خپل اولس اؤ خپل قام مئین ؤ.

ښاغلے کبیرستورے

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ورځپانه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

دیو سیاسی لارښود سره سره یو قام پرست شاعر هم ؤ. ما چې کله د هغوی څنې شعرونه دپښتونخوا دنومورو شاعرانو په اوازونو کښې دخورولو کارپیل کړو نو رو رو ستورے صیب دسیاسی مشرانو نه علاوه عام اولس هم وپیژندو. هغه چې کله هم پاکستان ته راغلے نو ډلې ډلې پښتنو شاعرانو ورسره ناسته وکړه. اؤ دهغه دسیاسی فکر نه ئې اثر واخستو. هم دغه ستورے ؤ چې دپښتو په نامه هر جوړیدونکی تقریب ته به په خصوصی توګه د المان نه راتلو.

هغه په صحافیانو هم ډیر مئین ؤ اؤ اکثر به ئې وئیل چې دا دپښتنو اصلی سترګې دی. چې خپل اولس ته لارښائی. دپښتنو صحافیانو هم دهغه سره یوه مینه وه، یو تعلق ؤ. چې

وحدت

چیف ایډیټرو پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت
په تصدیق دمنظورعام پریس خیربازارپېښورنه خپروی، ایډیټر پیررحمدل شاه
ایډیټر: ظفرعلي شاه ګیلانی، پته:: ورځپاڼه وحدت20 اسلامیه کلب بلډنګ
خیربازارپېښور فون : ۳۱۴۰۳۴ ۳۱۴۱۵۴ فیکس ۳۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pak

دخپل وطن او خپلې خاورې نه لرې والی دستوری په مزاج کښې یوه پټه محرومي پیدا کړه. او چې کله هم دغه محرومي په لفظونو کښې ځاې شوه نو ساندې ساندې شعرونه ترې جوړ شول.

6 اپریل 2006

بنیادی محور ئې زمونږ درنه مور ((پښتو)) وه.

دښاغلي کبیرستوري درنې درنې خبرې ماته اوس هم ښې یادې دی. هغوی به وئیل چې زمونږ قامی بدبختی دا ده چې دیو کار پوره کولو نه وړاندې چغې جوړې کړو. کار سرته ونهٔ رسی ځکه چې زمونږ دحقونو دښمنان ددغه کار د وړاندې لار ونیسی ځکه نو د وخت نه مخکښې چغې وهل خوند نهٔ کوی.

لاقدم مو دعمل اخستے نهٔ وی
دمنزل درسیدو سندرې وایو

هغه یو باعمله پښتون ؤ. کله چې ورته د المان حکومت بیا بیا وویل چې ته دجرمنی پاسپورټ واخله نو هغه به وئیل چې زهٔ خپل افغانیت بدلولو ته تیار نهٔ یم.

که هرڅو کبیرستوری دجرمنی په رنګینو کښې ساه ګانې اخستې خو د پښتونخوا مینې، دخپل وطن نه لری والی هغه دزړهٔ مریض کړو. یو کال وړاندې چې کله ډاکټرانو دهغه طبی معائنه وکړه نو ورته حیران شول چې دزړهٔ دوه والونه ئې بې کاره دی. اؤ ستورے بیاهم خپله ځلانهٔ کموی. ډاکټرانو ورته بیا بیا دعملیاتو (اپریشن) ووئیل خود ښاغلي کبیرستوري دعملیاتو نه کرکه وه. هغه به وئیل چې مړښه یم خو دې ته تیار نهٔ یم.

اؤ بیا هم هغسې وشوه چې کله هغه د ۳ اپریل ۲۰۰۶ ء په شپه دخپلو زامنو اؤ خپلو نورو مینه والو سره په خندا خندا خبرې وکړې. نو چاهم دا ګمان نهٔ شو کولے چې ګنې دا د کونړ دستوری اخری پلوشې دی. هغه لکه دنور کله په وخت اودهٔ شو. خو دغه خوب ډیر ازغن ؤ. په ۴ اپریل ۲۰۰۶ ء سهار وختی هغه په خوب کښې ولړزیدو. کورودانې وریسې منډه کړه چې معلوم کړی څه چل پرې شوید ے. خو چې دمخ نه ئې ورلهٔ څادر پورته کړو نو دلوئې فلسفي لیکوال شاعر ډاکټر کبیرستوری دواړه سترګې د خپل وطن په ارمان وازې پاتې شوې وې. دهغه د ژوند ملګرې هغه ته اوازونه کول. ولې دهغه ارمانی ارمانی تښتیدلی رنګ هغه ته وئیل چې:-

زما دژوند ملګرې
ستاپه جذبو پوهیږم
ستادلیمو په تل کښې
راغلې اوښکې وینم
خوغږ کولے نهٔ شم
ماخو وئیل چې زهٔ به
لادژوندون په لاره
وړاندې ګامونه اخلم
دغه تالا پښتون به
چرته راټول وینم
په خپل تالاهیواد کښې
به دسپرلو رنګونه
خوارهٔ وارهٔ وینم
زما وړه "سحرا" ئې
به دوختونو سره
په لوئیدو وینم
زما "پتوال" به چرته
زمادسترګو وړاندې
خپل زلمی توب وینی
زما پو[illegible]یال" به ماته
دخپل ژوندون سندره
په تته ژبه وائی
زهٔ به "پختان" په ژوند کښې
په لوئیدو وینم
زما "سلمی" اؤ "ښکلا"
هم "ولوله" نیازبینه
به شې راپیغلې چرته
زما دا ټول بچی به
مانه چاپیره ناست وی
"سمون" به هم یو ځلې
وړې خبرې زده کړی
ماته به ټول بچوړی
وائی بابا تهٔ خفه کیږې
هډو چې غم ونهٔ کړې
مونږه به ټول لتانه
لکه سپرلی ځاریږو
خو.... زما دژوند ملګرې
ژوندون وفاونهٔ کړه
زهٔ د اولس غمونو
ډیر زورولے یمه
په خپل کونړ پسې زهٔ
ډیر کړیدلے یمه
ماپه پردی وطن کښې
چرته ایسار چې نهٔ کړې
زما دروح په مړه
نورې چارې مهٔ ږدئ
زهٔ خپل وطن ته ځمه
زهٔ خپل وطن ته ځمه

(واورئ کښې بند نومونه د ستوری صیب دنمسو دی.)

که یو خوا د ډاکټر کبیرستوری وازو سترګو دغه

باقی صفحه 5کالم 1

وحدت

6 اپریل 2006ء

پاتې: کونړ ستورے پناه شو

ساندې وئیلې نو بل خوا دهغوی په کور کښې ماتم جوړ ؤ. د هر چاپه سترګو کښې اوښکو چورلکونه خوړل. دغه اطلاع چې پېښور ته راورسیده نو دلته دهغه مشر زوې ډاکټر بصیرستوری نه یودوه خطا شول. هغه دخپل پلار....... په ارمانی ژوند په چغو چغو وژړل. د هغه مشر ورور وکیل عبدالجلیل لکه دماشومانو رنې رنې اوښکې توئې کړې. هغه دومره قدرې ووئیل :-

((دمرګ نه خلاصون نیشته خو زما ستورے، زما کبیرخان ډیر ارمانی مړ شو)) ....

دکبیرستوری د مرګ خبر په ټوله پښتونخوا کښې لکه د اور د لمبې خور شو. اؤ دقام پرستانو مشرانو ډلې ډلې راحت اباد ته روانې شوې ...... خلق به راځی، ویرونه به کیږی. ژړاګانې به کولے شی خو...... دپښتو ژبې دخدمت اؤ عظمت هغه ستورے دهمیشه همیشه دپاره پناه شوید ے. دچاپلوشې چې د المان نه ترلوئې افغانستان پورې خوریدې. په ګورئې نور شه. (آمین).

وحدت

وحدت

چیف ایډیټر، چیف ایګزیکټیواو پبلشر پیرسیدسفیدشاه همدرد ورځپانه وحدت د پاکستان د حکومت په تصدیق د ۸/نشترآباد روډ پېښور نه خپروی، وحدت یوه بې طرفه ازاده اود ټولو پښتنو دهیلو عکاسه ورځپانه ده چې دپاکستان اوافغانستان په شمول دنړۍ په هغوټولو هیوادونوکښې دټولو پښتنوورځپانونه زیاته لوستل کیږي چرته چې پښتانه اباد دي

Phone: 091-2214154 091-2214034 Fax 091-2214321

چیف ایډیټر: پیرسیدسفیدشاه همدرد ایډیټر: سیدهارون شاه جوائنټ ایډیټر: سیدرحمدل شاه

Website: www.wahdatdaily.com, E-mail: wahdat@pes.comsats.net.pk

پنجشنبه 13 اپریل 2006ء

داروابښاد ډاکټرعبدالکبیر ستورې روح ته

عرفان الله کوټوال

دادکوم اجل جرس وې چې په غوږ مولګېدلے
چې دستورو له مداره مویوستورے غورځېدلے
یابه مونږه بدنصیب یویاخدایه ستارضاوه
ستا رضا ده ستارضاده داموتاته دربخښلے
دپښتو دپټکي ول وې دغرور یوه شمله وه
زمونږستورے داقبال وې چې په سرمواوسیدلے
زمونږلعل ،زمونږه ګنج وې دازمونږ دژوند رڼاوه
چې بغیر له دې ژوندون وے مونږ به ولې ژړېدلے
دابه څومره نیکمرغي وے چې دخپل ستورې رڼاته
موفرهنګ غېږې وهلے اویوبل ئې خملولے
دابه فخر دابه ژوندوے چې یوستورے مو په لاس وے
داوږه وږه پښتو مولاس نیولې ګرځولے
دکوټوال به په تندی کښې رڼائی دستورونه وه
کنه ستوری به ترعمره موپه تنده ځلیدلے

MEMBER APNS | MEMBER CPNE | MEMBER FEC

Wahdat@pes.comsats.net.pk

مولږدپاره هم الله كافي دے او هغه تر ټولو بهتر مددګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چيف ايډيټر
پير سيد سفيد شاه همدرد

ورځپاڼه
وحدت

پېښور
پاکستان

ايډيټر
سيد هارون شاه

رجسټرډ ډي نمبر ۲۷

بيعه 4 روپۍ

فون: 2214154 فيکس: 2214321

جلد: 31

يکشنبه (اتوار)، 15 ربيع الثاني، 1427 هـ ق، 1 جېټ، 2063 ب
14 مئ، 2006، 24 ثور (غوائے)، 1385 هـ ش

شماره: 130

دخداې بخښلي ستوري د
ځلوېښتي مراسم په کونړ
کښې ترسره شول

پېښور (پ ر) دافغانستان دکونړ په ولايت کښې تيره ورځ د اروابناد ډاکټر کبير ستوري دځلوېښتي مراسم په خپل پلرني کلي دکونړ تنز کښې په خاصو مذهبي دهيواد منلے شخصيت مراسم ترسره شول اروابناد ډاکټر کبير ستورے دپښتو ژبې شاعر ،پياوړے ليکوال اودپښتون سوشل ډيموکريټک پارټۍ مشر ؤ چې اپريل په څلورمه نيټه په جرمنی د زړه دناروغی له کبله په حق رسيدلے ؤ. اوپه اووم اپريل په خپله پلرنۍ هديره کښې خاورو ته سپارل شوے ؤ.نوموړي پښتو ژبې ،پښتو آدب اودپښتو دقامي وحدت لپاره نه هيريدونکے خدمت کړے دے. دخداې بخښلي دځلوېښتي په مراسمو کښې دهيواد نوموړو شخصيتونو ،دکونړ دسيمې مشرانو، علماء اوعامو خلقو ګډون وکړو.او د ډاکټر کبير ستوري لپاره ئې دمغفرت دعا وکړه. اودقران عظيم الشان په ختم کښې ئې برخه واخسته.

د ډاکتر کبير ستوري د لومړي تلين پر مناسبت د وحدت ورځپاڼې ځانګړې ګڼه

ورځپاڼه وحدت 13 اپريل 2007

وحدت

د ډاکټر کبير ستوري
د لومړي تلين په مناسبت ځانګړې خپرونه

مدثر شاه

ميا فاروق فراق

ډاکټر کبير ستوري په المان کښې د مصروف ژوند باوجود هم د پښتنو د يو والي د پاره وخت ورکولو او د پښتونخوا سياسي، ادبي او کلتوري شخصيتونه دي خبرې شاهدان دي

په کال 1964 کښې حکومت ډاکټر کبير ستوري د يو ذهين طالب علم په توګه د لوړو زده کړو د پاره جرمنۍ ته وليږلو هلته ئې د فرانکفورټ پوهنتون نه په فلسفه کښې ډګري واخسته

د پښتنو د قامي وحدت نه ستړې کېدونکے مبارز
ډاکټر کبير ستورے

د نفاق رنځ

اوس که خپل جنت وطن کښې بې وطن يم
خو اخر د دې وطن اصلي خښتن يم
د نفاق رنځ راکښې ګډ دے ناتوان يم
که يو ځل په اتفاق شم توانمن يم
د نفاق د رنځ له درده که زه روغ شم
بيا مې ګوره چې د خپل وطن واکمن يم
دغه ټول د ګل په بوټي کښې يم لوني شوے
پروت د دنګو دنګو غرونو په لمن يم
ساه مې واخله خو پښتو را نه وا نه خلې
زه پښتون يم په پښتو باندې پتمن يم
که زما ستورے په قبر چرې راشې
په پښتو راته دعا کړه پرې خښ يم

دا رواښاد کبير ستوري د سياسي، ادبي، کلتوري او ټولنيزو خدماتو په اعتراف د بيلا بيلو شخصيتونو تاثرات

The special edition of Wahdat newspaper on the occasion of the first anniversary of the late Dr. Kabir Stori.

ورځپانه وحدت پیښور (۵) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷

دارو اښاد کبیر ستوری دسیاسی، ادبی، کلتوری او ټولنیزو خدماتو په اعتراف دبیلا بیلو شخصیاتو تاثرات

افضل خان لاله

ستورے په ونه لوړ نه ؤ خو په عزم او ارادو دتاترې نه ډیر دنګ او اوچت ؤ .دستوری درنا یو اړخ نه ؤ بلکې هر لوری او هر اړخ ته دهغه درنا پلوشې خورې وې .په علم اوپوهه کښې پی ایچ دی ؤ ا... هغه هم په ساپوهنه کښې .شاعر ؤ ادیب ؤ ژورنالست ؤ مصنف ؤ او دټولو نه زیات بې کچه قام پرست ؤ په رښتیا چې کبیر ستورے ؤ دهغه قام(پښتون) په کال ۱۸۹۳ ء کښې فرنګیانو څلور ټوټې کړو او هغه ته دخپل اولس ددې تقسیم پوره پوره احساس ؤ هغه پوهیدلو چې دهغه قامی وجود نشته .ستو ری دا ارمان لرلو چې د پښتون قام وحدت دهغه په ژوند کښې حاصل شی خو دا ارمان ئې پوره نهٔ شو. البته دوحدت دحصول په لاره ئې دومره رڼا غورځولې وه چې زما یقین دے چې دوحدت دا مرام به ډیر زر ترلاسه شی هاغه لوستی پښتانه چې دوحدت خبرې ته غوږ نهٔ اینبودو دستوری دهغه دملګرو په کوششونو هغه نن په ... دې وینا مجبور دی چې پښتون افغان قام دمسائلو حل دقامی وحدت نه بغیر نهٔ شی کیدے.

رحمت شاه سائل

دوه خبرې په پښتنو کښې ډیرې مشهورې دی او دغه دواړه خبرې دپښتنو دژوند معیار او دسړیتوب معیار جوړوی یا ټاکی .یوه خبره دا چې خلق وائی سل دې ومره یو دې مهٔ مره او دویمه دا چې په خوړ کښې هر کلے سپر نهٔ وی. محترم ډاکټر کبیر ستورے په دې دوارو خبرو پوره ختلے ؤ دویمه خبره دا ده چې په پښتنو کښې هر سړے درائې خاوند نهٔ وی ددهٔ لوئې والے دا ؤ چې دے درائې خاوند ؤ او ددې قام، ددې خاورې ، ددې پښتو ژبې دپاره به ددهٔ فعالیتونه تل خلق یادوی او ددهٔ دجلباتو کار او عمل تسلسل به رارواں وی.

زلمے هیوادمل

ستورے دنورو افغانانو او دپښتنو او بلوڅو داستازیو په ملتیا په فدرال المان کښې دپښتنو او بلوڅو دسرنوشت موضوع سرېنت ته پرې نهٔ ښودو او په دې لاره کښې چې څه ممکن وؤ دهٔ دخپلو نورو ملګرو په مرسته او ملګرتیا له دې امکاناتو څخه په دې لاره کښې ګټه اوچته کړه دنلستو میټنګونو مجلو او ورځپاڼو له لارې ئې په دې برخه کښې قلمونه اوچت کړل، مونږ دکبیر ستوری دغه ډول شریفانه ملی هڅو ته دقدر په سترګه ګورو.

ډاکټر فضل رحیم مروت

لوئې پښتون ښاغلے کبیر ستوری صیب ته زهٔ دیو لوئې پښتون په سترګه ګورم . ځکه چې هغه نهٔ صرف دلر او بر پښتون درد په کښې وو، بلکې هغه دقلمی جهاد نه راواخله تر عملی جهاد پورې دپښتون قام د یو والی او ښیګړې دپاره کار کولو .هغه کهٔ نن زمونږ په منځ کښې نشته خو دهغه قلم او فکر زمونږ دلارې رهنما او لارښود دے خدای دې دښکلیو جنتونو سردار کړی .امین

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

ورځپاڼه وحدت پېښور (۷) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷ء

سلیم راز

کبیر ستورے اول او اخر پښتون ؤ خو سوسیال ډیموکریټ پښتون ؤ پښتو ئې وئیله، لیکله لوستله او کوله دپښتو معنی ورتلله، دپښتونولۍ په مفهوم پوهیدلو او دپښتون په صفاتو ښائسته وه ځکه په عمل کښې ئې هم ټول ژوند دپښتو او پښتون دپاره ؤ حقیقت دا دے چې هغه ژوندے په پښتو او پښتون ؤ پښتو او پښتون ئې په وجود کښې روح تازه ساتلو او په پښتو او پښتون کښې ئې ساه غړیدله .حقیقت دا دے چې داسې شصخیتونه نۀ مری دهغه متحرک او مقناطیسی شخصیت دهغه په هر لیک او تخلیق کښې نن هم دخپل وجود ګواهی کوی، دهغه قومی خدمات او قائم کړی پښتنی روایات نن هم دپښتون اولس فکری او تهذیبی رهنمائی کوی.

پروفیسر عبدالرسول امین

دکبیر ستوری مړینه دافغانستان او په مشخصه توګه پښتنو او کونړ لپاره لویه ضائعه ده.

ډاکټر راج ولی شاه خټک

ډاکټر کبیر ستورے یو ښۀ معیاری شاعر ؤ دښکلی شعرونو مجموعې ئې چاپ کړی دی . شعر ئې هم داولس دقامی شعور رابیدارولو دپاره لکه چې وقف کړے ؤ . . دومره مینه دومره پیرزوئنه خو سوچه، ښاغلی او حقیقی پښتونَ کولے شی .او ډاکټر کبیر ستورے هم داسې یو کلک دځوانې جذبې خاوند پښتون ؤ .اوس کۀ هغه په وجود نشته خو یاد او تاثر ئې دغرونو او سردرو په ګړنګونو او سرونو خور دے او شاید چې تر څو پښتو ژبه ژوندۍ وی نو ستورے په دتلین نه پسته هم دپښتونخوا په افقونو پلوشې خورې لری.

قیصر خان ایډوکیټ

کبیر ستورے ډیر لوئې پښتون ؤ .فکرونه او خیالونه ئې تولو نه بیل بیل وو .پخپل قام باندې ډیر زیات مئین ؤ په ټول یورپ کښې په رښتیا ستورے ؤ دپښتون قوم یو والے دهغه دژوند مقصد ؤ. دا مبارز زما ډیر نزدې دوست ؤ.

سعدالله جان برق

ما ډاکټر کبیر ستورے صیب په ورومبی ځل دپښتو عالمی کانفرنس په وخت لیدلے ؤ هغوی چې کله ماته خپل یو کتاب چې په نفسیاتو باندې لیکل شوے ؤ راکړو هغه کتاب چې ما ولوستو زۀ ډیر زیات خوشحاله شوم او داسې احساس راته وشو چې په پښتنو کښې هم داسې پوهان او دانشوران شته چې په داسې مهمه او حساسه موضوع پخپله خوږه ژبه پښتو کښې لیکل کوی. دنفسیاتو کتاب لیکل څه عامه خبره نۀ ده نو زۀ دا ګنم چې دکبیر ستوری وفات دپښتنو او پښتو ژبې لپاره نۀ هیریدونکے زیان دے. خدای دې وکړی چې دهغوی دا منزل نور پښتانۀ پوهان وړاندې بوځی .

مختیار احمد یوسفزے

خدای بخښلی ډاکټر کبیر ستورے په رښتیا یو ستورے ؤ او دهغوی بې وخته ددینا نه تلل، پښتو ادب او مونږ ته ډیر نقصان دے او زۀ دا غم په لفظونو کښې نۀ شم احاطه کولے.

شمیم شاهد

داروانښاد ډاکټر کبیر ستوری مړینه دټولو پښتنو ډیر غټ زیان ګنم .محترم ډاکټر صیب دپښتنو دیو کیدلو لپاره ډیرې مبارزې کړې دی او پښتون قوم به ددوی دغه هلو ځلو ته دقدر په نظر ګوری او یاد به ئې ساتی.

زرعلی خان موسی زے

لروانښاد کبیر ستورے دپښتون قلمی وحدت یو داسې ځلانده ستورے ؤ چې ددغه ستوری درنا نه به پښتون قلم همیش همیش دپاره فائده اخلی .هغه دیو همه ګیر شخصیت خاوند ؤ چې خپل ټول ژوند ئې خپل قلم ته وقف کړے وو کۀ دادب میدان ؤ یا دپښتون قلم وسیلی ګټو حاصلولو دپاره هلو ځلو ځلې وؤ کبیر ستورے په ډیره ایمانداری او پښتنه مینه .دخپل قلم خدمت ته ملا تړلې وه. نن خو کبیر ستورے زمونږ نه په جسمانی توګه جدا شو خو هغه دپښتون قلم دادبی او سیاسی خدماتو په سبب همیش دپاره مونږ سره دے .او دهغه خدمات به دټل دپاره دیو قلمی سیاستمدار او ادیب په توګه یاد ساتلے شی.

احسان الله دانش ساپی

خدائې بخښلے ډاکټر کبیر ستورے دپښتو ژبې یو رښتینے خدمتګار ؤ زما ورسره څو ځو ځله لیدل کتل شوی وؤ .ډیر حلیم، نرم ، اخلاقی او خوږ انسان ؤ ما سره ئې دپښتو او پښتونولۍ تار شریک ؤ .زما او د ډاکټر صیب دا رشته شریکه ده. زۀ په خدای بخښلی حتماً ګران ؤم ځکه چې دے په ما ډیر ګران ؤ. لـه لوئې خدای نه ورته دبخښنې او مغفرت دعا کوم.☆☆☆

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو رومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

بیعه: خلور (4) روپۍ

رجسټرډ نمبر پي ۲۷

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د پنج شنبې زیارت ورځ ۳۰ د وږې خوره ۱۴۱۸ هـ ق ۱۳۰ د وږې (سنبله) ۱۳۷۶ هـ ش 21 ...، 1997ع ... جلد 12، ... شماره 239

2006 / 6 اپریل

جمعرات 6 اپریل 2006

د قمرزمان ټائزي او ډاکټر کبیر ستوري په مړینه د سلیم بنګښ غمرازي

پېښور (پ ر) د پښتو ادبي چمن تل روح روان سلیم بنګښ په خپل اخباري بیان کښې د پښتو ادب د دوو ځلندو ستورو قمرزمان قمر، ټائزي او جرمني کښې د پښتو د نامتو قوم پرست لیکوال کبیر ستوري په مړینه د ډېر غم او خفګان اظهار کړیدے.

ABC CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپانه

ورځپانه پېښور

وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پی نمبر 27

6 اپریل 2006ء

دهمیش ملګری هنګامی تعزیتی غونډه

دډاکټر کبیر ستوری او قمرزمان طائزی په مړینه دغمرازۍ څرګندونه وشوه

پېښور (وحدت خبر) دهمیش ملګری تنظیم یوه هنګامی تعزیتی غونډه پرون دتنظیم دصدر ډاکټر میا سهیل انشاء مشرۍ کښې وشوه. چې پکښې استاذ همیش خلیل، حنیف خلیل، شیر احمد خلیل، جوهر خلیل،

باقی صفحه 2 کالم 7

پاتې: همیش ملګری غونډه

مهر خلیل، مذکر شاه خلیل، محمد امین اؤ شهاب ملازی ګډون وکړو غونډه کښې د پښتو ژبې دستر لیکوال او روان شناس ډاکټر کبیر ستوری او دنومیالی شاعر ادیب قمرزمان قمر طائزی پۀ مړینه د ژور غم درد او خفګان څرګندونه او دعا وکړے شوه. چې الله تعالی دې دمرحومینو مغفرت او غمژنو کورنیو دزړۀ صبر نصیب کړی، غونډه کښې د پښتو ژبې ،ادب او تاریخ د ودې پۀ لړ کښې د دواړو مرحومینو خدماتو ته زرینې پیرزوینې وړاندې کړے شوې.

ورځپانه پېښور
وحدت
چیف ایډیټرو پبلشرپیرسیدسفیدشاه همدرد ورځپانه "وحدت" دپاکستان دحکومت په تصدیق دمنظورعام پریس خیبربازارپېښورنه خپروی، ایډیټرپیررحمدل شاه ایډیټر: ظفرعلی شاه ګیلانی، پته:: ورځپانه وحدت20 اسلامیه کلب بلډنګ خیبربازارپېښور_ فون : ۳۱۴۰۳۴ ۳۱۴۱۵۴ فیکس ۳۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pak

ورځپانه وحدت پېښور (۲) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷

خداي بخښلے ډاکټر کبیر ستورے

لیک: مبارز ځاپې

یونانـي نامـتو پـوه او فیلسـوف "ارستو" وائي هر سیاسي ګوند یا ډله ټپله له آره دروغجن او ولس غولوونکـی ده. دغـه خبره چې د عمل په ډګر کې تل رښتیا ختلې پـه تـاریخ کې هـم د هغـه د رښتیا تـوب پـه هکلـه د ټولـو سیاسـي ګوندونـو چـال چلـند ګواهـی ورکوي د نړۍ په هیڅ یوه ګوټ کې بـه تـر اوسه پورې داسې کوم سیاسـي ګونـد یـا ډلـه ټپله ونـه لیدله شي چې هغه به د مبارزې په مهـال کې خپـل ولـس تـه کومـه وعـده ورکـړې وي بـیا پـر هغـی وعدې بـه دوا کمنی. پـه مهال کې تیـنګ ولاړ پاتـی شـوی وی. او همدارنګـه هیڅ چیرته هم څوک داسې سیاسي ګوند یا ډله نه شي پـه ګوتـه کولی چې هغـه بـه د خپل ولس د ګټو پـه لیاره کې ځان قربان کـړی وي. مګـر دغـو سیاسـي ګوندونو او ډلو ټپلو هر کله او هر چیرته د خپلو ګوندي او سیاسي ګټو او موخو لپاره خپل ولس د قرابانۍ د ګډي پـه څېر ونډ ونډ کـړی دی. مونـږ پـه دی تیـرو شـل دیرشـو کلونـو کې د خـپل ګـران هـیواد افغانسـتان د پیښـو دعـا ملیـنو پـه چـال و چلـند کې پـه پرانیسـتو سترګو ولـیدل چې هـر سیاسـي ګونـد او تنظـیم د خـپلو ګونـدي او تنظیمـی نـاوړو موخو او ګټو د تـر لاسـه کولـو پـه لـیاره کې ئې د خـپل هـیواد او ولـس ټول انسـاني ، مادي او منعوي شتمني تـباه او د خپل منځیو دښمنیو پـه اورکې وسوزل. مونږ ولیدل د کیـن لاسو ډلو ټپلو تر منځه د څوکۍ او واکمنـی پـر سـر جګـړو کې ځمره انسانان ووژل شول او بیا څـرنګه اړ شـول څـو د شـوروي اتحاد د پوځونو په رابللو د خپلو سیاسي موخو د تر لاسه کولو په لیاره کې هلې ځلې وکوي او پـه هماغـه توګـه مـو هـم د ښي لاسـو تنظیمونو او ډلو ټپلو ځان پلورل ، وجدان پلـورل او ایمـان پلـورل ولـیدل او پـه پـای کې مـو دا هـم ولیدل چې د دین ، ایمان، اسلام او د خـدای د لـیاری مجاهدیـنو څنګه وکـولای شول چې د اشتی نامنوونکو دښمنا نو سره یو ځای شـي او بـي ګـناهو انسـانانو پـر سرونو میخونه ټک وهي، د مړیو پـر نڅـا او د بـي ګـناهو ښـځو او نجـنو د تـیو پـر پـریکولو فلمونـه جوړ کـړي. دا مـو هـم ولـیدل چې هماغو د مذهب پتنګانو ، د جهاد د لـیاری سـر تـیرو او د اسـلام یـو نـیم زر کلـن ټـیکه دارنـو د څوکـۍ او پر هیواد باندی د نیمه واکمنۍ د تـر لاسـه کولـو پـه موخـه څـنګه وکـولای شـول د امـریکا ئـي 52 ډولـه بمـي الوتکـو تـر سـیوری لاندی په کابل کې راټول او یو ځل بیا د ولـس پر لوټولو او د هـیواد پـر چورولـو بوخـت شـي. دا ؤ د سیاسـي ګوندونـو او تنظـیمونو د چال چلند کاذب اړخ او دروغجنه څهره، خو مونږ په داسې حال او لا پـه داسـې چاپیریال کې د پښـتنو ټولنیز ولسـولیز ګوند پـه نامـه هم پـه جرمـنې کې یـو سیاسـي ګونـد لـرلو، چې دغـه ګونـد د خـدای ببښـلي ډاکـتر کبـیر سـتوری تـر مشرۍ لاندی خپلی چاری سمولی او پـر مـخ بـیولې. دا یواځنـی سیاسي ګوند ؤ چې په هیواد کې د ټولو ګوندونو او تنظیمونو غیر انساني چال چلند به ئې غندلو او د هغـوی پـام بـه ئې پـه ورځنـیو چارو کې انساني اړخ ته را اړولو. او دا یواځنی سیاسي ګوند ؤ چې د سیاست په تاریخ کې په لومړي ځل د خپلو هیواد والو لپاره د انسـاني او اخلاقـي مرسـتو درسـولو پـه لـیاره کې لـه خپلو سیاسي موخو سترګی پټی کړلی. یعنی د سیاست په ډګر کی خدای ببښلی ډاکتر کبیر ستوری یواځنی سیاسي سرېتوب ؤ چې د سیاست په تاریخ کې ئې د دروغو او دوکو پر ځای د رښتیا ویلو او انساني کړنو کلک ملاتړ او پلوي وکړله. ډاکـتر سـتوری یواځنی سیاسی سـرېتوب ؤ چې وی نـه غوښـتله لکه د نورو سیاسي ډلو ټپلو پـه څـیر خپل ولـس لـه خـپله ګونـده قـربان کـړي مګـر دا ئې پـه عمـل کې وښوده چې ګوند باید د ولس د ګټو پـه لیاره کې ځار شي. هغـه چې پـه سیاسـت کې د انسـاني کرامت او شرافت د خوندي ساتلو پلـوی ؤ د تـل لـپاره بـه یې د انسـانیت د ارزښـتونو د خونـدي ساتلو پـه ملاتړ د سیاست د پلي کولو پر پلوي ولاړ دریځ لاره، او دابـه ئې نـه لوروله چې د چا انسـاني حقوقوتـه د بـل چـا د سیاسـي ګټـوله املـه تـاوان ورسـیږي.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
ABC CERTIFIED
په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه
MEMBER APNS
ورځپاڼه
پېښور
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
وحدت
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

وحدت

ادب پاڼه

ترتیب: خاکسار اپریدے

قاسم علی اپریدی پښتو ادبی ټولنه

د قاسم علی اپریدی پښتو ادبی ټولنې دره ادم خیل میاشتنۍ غونډه په ۳۰ اپریل ۲۰۰۶ء د میاشتې د اخری اتوار په ورځ سحر نهه بجې په عزیز خان مارکیټ دره بازار دره ادم خیل کښې د سراج صافی په حجره کښې د حاجی حمید ګل حمید اپریدی په صدارت کښې وشوه په دې موقعه پروفیسر المردلسوز اپریدے مشر میلمه ؤ غونډه د شاه پور اپریدی له خوا د تلاوت کلام پاک سره شروع شوه د نظامت چارې مراد علی مراد ترسره کړې او د تیرې غونډې روداد ئې هم واورولو. غونډه کښې په یو تعزیتی قرارداد کښې د مرحوم ډاکټر کبیر ستوری په مړینه او د ډاکټر شیر زمان طائزی د ورور قمر زمان طائزی په مړینه د

باقی صفحه 4 کالم 8

پاتې: قاسم علی پښتو ادبی ټولنه

ډیر زیات غم او خفګان د ځرګندونې. ود مرحومینو د مغفرت د پاره الله تعالی نه دعا وغوښتے شوه. په اخر کښې یوه غیر طرحی مشاعره وشوه چې پکښې ممتاز غمګین اپریدی. ګل عمر عمر اپریدی، ډاکټر نواب اپریدی. مراد علی مراد، سلیمان اثر اپریدی، شاه پور اپریدی، پروفیسر المردلسوز اپریدی او حاجی حمید ګل حمید اپریدی خپل خپل کلامونه واورول.

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه

پېښور

ورځپاڼه

وحدت

چيف ايډيټر

پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

16 اپریل 2006

آریانه پښتو ادبي جرګه

د اریانه پښتو ادبي ټولنې یوه غونډه د جمعې مبارکې په ورځ د حاجی طوفان په حجره کښې د ښائسته ګل ایوب په صدارت کښې وشوه. د غونډې باقاعده اغاز نعمت الله صدیقی د تلاوت کلام پاک د څو مبارکو ایتونو دتلاوت څخه وکړو. د نظامت چارې مدد ګل علی خیل ترسره کړې. په دې موقعه د غونډې مشر میلمه دین محمد فریاد ؤ، په اخره کښې یوه ازاده مشاعره وشوه چې پکښې پیر ګل شاعریار، عرافات ګل، صابر ځاځی، مدد ګل علی خلیل، نجیب الله څرګند، حاجی طوفان، مبارک جان، ښائسته ګل ایوب. نظیر ورک. دین محمد فریاد، اختر محمد سودائی، امین رحمان خوشبخت، نعمت الله صدیقی، رفیع الله ځاځی، نورک مجبور او نسیم الله ګران خپل خپل کلامونه واورول. په اخره کښې د ډاکټر کبیر ستوری په مړینه د ژور غم او خفګان څرګندونه وشوه.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو روحانې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

پېښور

وحدت

چیف ایډیټر : پیر سفید شاه همدرد

16 اپریل 2006

ظهیر پښتو ادبی جرګه

د ظهیر پښتو ادبی جرګې یوه درنه غونډه د جمعې په ورځ د اپریل د میاشتې په اوومه نیټه کال ۲۰۰۶ء د نادرا په پخوانی دفتر کښې ماذیګر څلور بجې د نامتو ادیب او شاعر طارق حیران په صدارت کښې وشوه. د نظامت چارې زاهدخان شیدا ترسره کړې. او د تیرې غونډې روداد ئې هم واورولو. د غونډې باقاعده اغاز سعدالله خان بلیغ د قران پاک د څو مبارکو ایتونو د تلاوت څخه وکړو. په دې موقعه رحمت شاه خاموش مشر میلمه ؤ. غونډه په دوؤ برخو مشتمله وه په وړومبی برخه کښې ملګرو د پښتو ژبې د نامتو شاعر قمرزمان طائزی او ډاکټر کبیر ستوری په مړینه د ژور خفګان څرګندونه وکړه. جرګې د ډاکټر کبیر ستوری او قمرزمان طائزی د بخښنې د پاره په ګډه دعا وکړه. په دویمه برخه کښې یوه غیر طرحی مشاعره وشوه چې پکښې طارق حیران. غلام سرورخان ، شیرعلی دریاب. فدامحمد مجبور، زاهد خان شیدا ، سعدالله خان بلیغ. رحم دادخان. فیاض شاداب. محمد عادل. مشرف شاه هلال. جابرخان ملنګ. سراج عارف. شمیر اپریدی. راحت شاه

باقی صفحه 5 کالم 8

باقی ظهیر پښتو ادبی جرګه

بدربخاری، صنوبر کاکا ، سفیرالله ناشاد ، رحمت شاه خاموش. اختر تنګیال، یاسین شیدا ، امین خان، احسان جلبل. عابدخان. ارشدانګار. فضل واحد واحد . لیاقت علی لیاقت. منورشاه ګوهر، شفیع الزمان او حکیم خان اپریدی برخه واخسته. د ظهیر پښتو ادبی جرګې راتلونکې غونډه به د مئی د میاشتې په وړومبی نیټه د مزدورانو د نړیوالې ورځې په مناسبت ماذیګر درې بجې کیږی.

وحدت
ورځپاڼه وحدت پېښور
(۳) ۲۲ اپریل ۲۰۰۷
یکشنبه(اتوار) ۲۲ اپریل ۲۰۰۷ء

د اروابناد کبیرستوري په یاد کښې مشاعره

د پښتو عالمي کانګرس په اهتمام د نامتو شاعر، ادیب اروابناد کبیرستوري په یاد کښې یوه ستره مشاعره وشوه چې پکښې ډاکټرجهانزیب نیاز، احمدعلی عاجز، اکبرعلی فقیر، فهیم بنګش، غلام محمودشهاب، ګلزاده کوثر، قابل شاه لیوني، زاهدخان زاهد، امجدعلی خادم، خان باتور، شهاب الدین ایډوکیټ، ګل محمدمسرور، جمشید مومند، شبیردراني، میافاروق فراق، ارشدخان شاهکار، معظم خان معظم، عبدالحلیم حلیم، اخترمنیرمنیر، شاه احمدښکاري، حاجي قندهاراپریدي، حیات روغاني، ودودهشنغري، عرفان الله کوټوال، شفیع الله زهیر، خورشیدثاقب، امین غفارامین، مهرمحمدمهر، محمدهمایون هما، سیدکمال کمال، محمد سعیدراحت، خالدامین غازي، شهاب بنوڅي، فدامحمدمجبور، محمدجبارجبار، محمدعالم عالم، ډاکټرفضل دین خټک، اقبال حسین افګار، سیدرسول ناساپه، اکبرعلي فقیر او ډاکټریاسین خلیل خپل خپل کلامونه واورول.

موږ د پاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد ګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چيف ايډيټر
پير سيد سفيد شاه همدرد

ورځپانه
وحدت

پېښور
پاکستان

ايډيټر
سيد هارون شاه

ABC CERTIFIED

رجسٹرڈ ایل نمبر ۲۷

فون: 2214154 فيکس: 2214321

بيعه 4 روپۍ

جلد: 31

جمعة المبارک، 8 ربيع الاول 1427 هـ ق 25 چيتر 2062 ب
7 اپريل 2006، 18 وري حمل 1385 هـ ش

شماره: 94

ډاکټر کبير ستوري خدمتونه به تل ياد ساتلے شي. حاجي شرافت

پېښور (وحدت خبر) د افغان اسلامي اړانس رئيس حاجي محمد يعقوب شرافت د نړيوالي اديب شاعر او اروا پوه ډاکټر کبير ستوري په وفات د غمرازۍ يو پيغام کښې وئيلي دي چې د پښتو ژبې او ادب لپاره به د ډاکټر کبير ستوري خدمات تل ياد ساتلے شي. دهٔ ووئيل چې موږ دې لوئې غم کښې د ارواښاد کورنۍ سره برابر شريک يو. او د لوئې خداې په دربار کښې لاس په دعا يو چې ارواښاد کبير ستوري ته جنت الفردوس او کورنۍ او دوستانو ته ئې صبر جميل نصيب کړي.

ورځپاڼه پېښور

وحدت

ورځپانه وحدت پیښور (۳) ۲۷ اپریل ۲۰۰۷

پښتون کبیر

لیک: محمد پروېش شاهین

د تاریخ په اوږدو کې چې د پښتنو په کور تل عمری چې د زور او اور د هڅو او ورکو، راوواهه او راکاږه، تالا کړه او ترغه کړه، لوړ شه، خنجر شه، توپک شه او لانچر شه، دې ورک کړه، زمکه ئې ورکه کړه، کلتور ئې له مینځه یوسه او فرهنګی شتمنی ئې د اورونو د لمبو خوراکه کړه. او بیا لا هم د غیرتی او پتمن قام په دې خپله خاوره سره د خپلې ژبې او کلتور څه ژوندی غوندې پاتې دی نو دا خو که معجزه نه وی نو کرشمه خو خامخاده.

ځکه چې د دارانه واخله تر ننه پورې په دې غیرتی هیواد د هرې خوا داور زور اووینو دریابونه راوبهیدلی شول څوک وائی ما ومنه او خپله خاوره راته پرېږده څوک وائی د خپل تاریخ او کلتور خبرې پرېږده او زما دا خپل کړه څوک وائی زما سیاست قبول کړه زما فسلفه خپله کړه، زما مسلک راتېنګ کړه او د خپلې ژبې څخه لاس په سر شه او زما ژبه خپله ژبه وګرځوه.

خو ددې انسان دښمنه خلقو یکی یوه د سیسه پلمه، پروپیګنډه او هڅه کامیابه نه شوه ولې؟

ځکه چې ددې ننګیالی خاورې، ننګیالی اولس هر سخته زغمی، د غلیم په مخکې هر یو وخت ډال کیږی سر ورکوی خو سنګر نه ورکوی ډیره په ګرانه ئې ګټی خو ډیره په ویړیا توګه ئې د خپلې ژبې په ساتنه پالنه او روزنه لګوی دغه وجه ده که وطن ئې هر وخت میوند میوند هم شی خو بیا هم دی بریالی پاتې کیږی او ولې نه چې زلمی ئې خو دی زلمی، په وخت ئې باتور نظره پیغلو هم په سنګرونو ښنګړی مات کړی او مورچلونه ئې راتېنګ کړی دی دغه خو وجه ده چې د بابر او د بادر خبرې لاړې د افغان قیصه باقی ده کوهستان کې په دې وطن پاله زامنو کې یو پتمن زوی پښتون نامه د کبیر ستوری په نوم پیژنی څوک چې لکه دایلم د غره اووه مخونه لری چې هر یو ئې د ځلا، ښکلا، نور، او حیا ډک او د ستاینې وړ دی ډاکتر کبیر ستوری په رښتیا چې ډیر اړخونه لری او په هر اړخ کې ښه کامیاب او بریالی دی ډاکتر دی ساه پوهه دی، دانشور دی، ادیب دی، شاعر دی، او یو سیاسی مشر هم دی نثر هم لیکی او نظم هم او دواړه ډیر ښه لیکی. د نورو ډیرو کارونو څخه پرته ئې د پښتو ادب په ګلستان کې لس اته داسې ګلونه لګولی دی چې که یو خوا ددغه ګلونو رنګونه جدا جدا دی نو داسی ئې خوشبویائې هم جدا جدا او ډیرې معطرې دی څه هم که موضوع ګانې ئې یوازې نوې بلکې ډیرې ګرانې هم دی خو لکه چې د لوئې افغانستان د لوئی کونړ، دا شهزاده د خپلې ژبې، لهجې، اوپا کې او اسائی پښتو په راقابو کولو بریالی دی. نو دغه وجه ده چې دغه ګرانې موضوګانې ئې دومره اسانی کړی دی چې لوستونکی ترې خوند او فائده او چتولی شی. دلته زه د لوئی کبیر په هغه لوئی فن اوارت بیرت میدان نه شم غرېدلی، زه چې د ډاکتر صاحب د کوم شی نه ډیر زیات متاثره یم په هغې یو څو کرښې وړاندې کوم د ټولو نه جوت او غښتلی مقام چې ډاکتر کبیر ته په برخه شوی ؤ هغه پخپله خاوره خپله ژبه، خپل قام، خپل تاریخ او خپل کلتور یوه لیونی مینه وه. او هم دغې شیانو زه د ډاکتر صاحب مریدی ته چمتو کړی وم ځکه چې دا د هغوی لوئی ارمان ؤ چې یوازې دا ساهو قام دې هسکه غړی نه وی ورسره دې د خپلې شتمنی، د خپل سیاست، د خپل کلتور د خپلې ژبې او خپلې خاورې او خپل اختیار ښبتن دې وی او دده نامه دی د نړی په قامونو کې ځلانده وی دغه وجه ده چې ډاکتر صاحب فقط دا رزوګانو او خواهشونو سړی نه ؤ د عمل د میدان شهسوار ؤ او په هر توګه ئې ددې قام خدمت، په ژبه، په قلم، په ګوندونو او غونډو جوړولو، په سیمینارونو، په مشاعرو، جلسو میلو، اتنونو او پروګرامونو کړیدی څه هم که د کور کلی او هیواد څخه په زرګونو میلونو لرې ؤ. خو دا وطن، پت او پښتو ته ډیر نزدې ؤ او هیڅ کله ئې د وطن غمیزې او له دې بیاسرودانی څخه زړه اړولی نه دی کله چې به هم په بر هیواد اویا کوز هیواد کې د پښتنو د قامی وحدت څخه غونډه وه او که د ژبې او کلتور څه کانفرنس، سمینار او غونډه وه نو مونږ به لا د سوات نه پیښور ته نه وو رررسیدلی چې ډاکتر به سره د خپلو ګلالو او پتمنو زامنو ا غیرتی ملګرو د پښتنو په پیرس پیښور کې موجود ؤ او دا پکې لا بله، چې میلمه به دې ؤ او په ډیره پښتنی مینه او د موسکا نه په ډکه خله به ئې غاړه تر زما چا پیره او پخیر به ئې راته ووئیل د ډاکتر صاحب لکه چې په عام ژوند کې خوږه خله ئې د مسکا ډکه، مینه ئې له امو پراخه او دماغو کاسه ئې لکه د اباسین ارته بیرته وه چې پخپله لویه سینه کې ئې ډیر سیندونه، خوړونه، چینې او ابشارونه رایو ځائې کړی وو زړه ئې د هر پښتون، ددمې کور ؤ او

ورځپاڼه پېښور
وحدت
۱۳ اپریل ۲۰۰۷ء

پښتون کبیر

هره خبره ئې د پوهې او شعور ډکه وه. بې شکه د لوئی زړه څښتن ؤ د زمری هومره زړه او تاتری هومره حوصله ئې درلودله او بغیر د څه ویرې ترهې، لالچ او دسیسې خپله خبره په ډاګه کوله که هغه به په سټیج وه او که قلم په ژبه دغه وجه وه چې لویی کبیر د هر پښتون او بیا خاص کر دلیکوالو په زړه کې ځان ته د مینې، محبت او احترام یوه لویه پلازمینه جوړه کړې وه او د هر چا به دا خیال ؤ چې کبیر هم فقط د ده دی. د کبیر سیاسی هلوځلو د پت پښتو ډک مزل د هغه نه د قطب ستوری جوړ کړی ؤ چې ماغوندې ډېرو ډېرو پرې خپل منزل ته د مزل لاری ټاکلی. ما ورته په پېښور کې د زامنو په مخ کې د ډیورنډ په دې ورستی پروګرام کې جولی وغوړوله چې ډاکټر صیب که زما سره سوات ته زما جونګړې ته لاړ شې په دې نه یم چې ستا میلمستیا به وکړم په دې یم چې سباله به تاریخ دا خبره یادوی چې دا جونګړه که هر څو خواره و زاره ده خو بیا هم د فخرا او اقتخار وړ ده ځکه دې ته د پښتو لوئی پښتون، لوئی فلسفی، لوئی دانشور کبیر ستوری دراتلو شرف بخښلی ؤ یو شیبه ساکوته غوندې شو وئیل شاهین صاحب نوره خبره به وروستو وکړم خو زما دا غټ ارمان دی چې د شاهین صیب په شان مې د خبرو کولو چل زده کړی وی دا د هغوی لوئی پیرزوینه وه ګڼې زه د هغوی په ډېرو شاګرانو کې یو کمزوری غوندې شاګرد وم خو هغه د چا خبره که خاورې هم اخله نو د لوئی ډېران څخه ئې اخلی او کله چې بیا ما د هغوی د کوچ سپیره خبر واوریدو نو بې هوشه شوم دغه وخت د کور کلی ډېر لرې په ګلګت کې وم چې هغې درنې جنازې ته ئې رارسیدل هم یوه ناشونې خبره وه او دغه شان زما دا سپیره خونه، سپیره پاتې شوله بره کرښو کې لکه چې زکر شوی دی چې دهغوی د لیک او کار ډېر اړخونه دی خو زه ئې د قام پرستۍ د جذبې نه ډېر متاثره یم حالانکې ډاکټر صیب دې لړ کې متعصب نه دی انسان دوست دی ، د هر بشر وده او ښه غواړی.

زه د جهان یوه ټوټه یم بیلیدلی ترې نه شم
داسې به کړم چې هم ځما هم د جهان خوښیږی

پښتون چې د ډاکټر صیب د وینا او هلوځلو مرکز دی وائی

پښتو، پت، ښیګړه، توره او وفا ده
چې ورزیات کړی ننګ پښتون تر ینه جوړیږی

چې د پښتون څوک غور کوی او غم ئې خوری د کور به ورله د مخکې نه ارومرو غم کوی کبیر وائی.

دسبا ستوری شه رنا جوړه کړه
چې ئې پښتون نو پښتونخوا جوړه کړه

او ددې د پاره د یو سوچه قامی وحدت ضرورت او اړتیا ده بغیر له دې څه نه کیږی ځکه خو کبیر صیب وائی. پښتون قامی وحدت په لوری ستوري سره ځمه دا لاره که اوږده ده خو مزل ئې لنډوي د قام، قامی وحدت د پاره یوه نره، کلکه، مامور او شتمنه ژبه ډېره ضروری ده. خو پښتنون اولس خپله ژبې څخه لویه بې غوره کړې ده هسې چغې سوری وهی عملی ګامونه نه اخلی.

www.wahdatdaily.com, E-mail: wahdat@pes.comsats.net.pk
وحدت
چیف ایډیټر، چیف ایګزیکټیو، پبلشر پیر سیدسفیدشاه همدرد سدیس پرنټرز B-A نشتراباد پېښور نه چاپ اوخپروی.
چیف ایډیټر: پیر سیدسفیدشاه همدرد، ایډیټر: سیدهارون شاه، جوائنټ ایډیټر: سیدرحمدل شاه
وحدت دټولو پښتنو دهیلو عکاسه ورځپاڼه ده. چې دپاکستان اوافغانستان په شمول دنړۍ په ټولو هاغو هیوادونو کښې لوستل کیږی. چرته چې پښتانه اباد دی.

ورځپاڼه
پېښور/راولپنډۍ
وحدت
Daily Wahdat Peshawar

د ډاکټر کبير ستوري په ياد د افغان کلتوري ټولنې غونډه او مشاعره

امان الله نصرت

افغان کلتوري ټولنې د مې په شپاړسمه نېټه د پېښور په سپرينګ کازنيول هوټل کښې د افغان نوموړي شاعر، ليکوال او سياستوال ډاکټر کبير ستوري د نمانځغونډې تيا کړې وه چې د لر او بر زيات شمېر شاعرانو، اديبانو، پوهانو او د شعر او ادب استاذانو او مينه والو پکښې ګډون درلود.

د دې غونډې او درنې غونډې د صدارت لپاره د پروفېسر ډاکټر ياسين يوسفزي نوم غوره شو، مشر مېلمه ئې د

له يوه راغلاست وروسته او د ډاکټر کبير ستوري په ژوند او ادبي او ټولنيزو خدمتونو ئې رڼا واچوله امان الله نصرت په خپلو خبرو کښې ووئيل:

اروابناد ډاکټر کبير ستوري د پښتو ادب له هغو ځلانده ستورو څخه و چې تل ئې د خپل قلم له لارې د خپل ولس او قام دردونه او ناخوالې په ګوته کولې او په هېواد کښې ئې د خوان کول د بېدارۍ او د افغانانو د ملي شعور او سياسي بصيرت د پياوړتيا لپاره کار او فعاليت کړی او خپلې هڅې او هلې ځلې ئې جارې ساتلې.

ډاکټر کبير ستوري د خپلې خاورې او ولس په بدو ورځو او دردونو دروېده او وخت په وخت ئې د خپلو خلقو په ويرجنو او غمجنو حالاتو اوښکې تويولې او د هغوی په بې وسۍ او بې

اجتماعي هلې ځلې او کارونه او پښتو او پښتنو ته خدمتونه تلپاتې د قدر وړ او نه هېرېدونکي دي چې که هر څومره پاڼونه او ستاينه ئې وکړو بيا به هم کمه وي او موږ ئې حق نه شو پوره کولی.

موږ د پښتو ادب او پښتو ژبې د دغه لوی خدمتګار کار او زيار او مبارزې ته د قدر په سترګو ګورو، پرې وياړو او خلقو ته د دې درونه پښتون مشر، خوږ ژبي شاعر او اديب او په خپل وطن او ولس مين سياستوال د خدمتونو پېژندګلوي کوو.

وروسته استاذ محمد هاشم غشريک د ډاکټر ستوري په ادبي او ټولنيز ژوند اوږدې خبرې وکړې او د نوموړي په سياسي فعاليتونو او ټولنيزو خدمتونو ئې په زړه پورې رڼا واچوله او اروابناد ستورے ئې هر اړخيز شخصيت وباله چې په هر ډګر ئې د خپل قابليت او ورتيا څېره روښانه ساتلې وه.

وروسته بيا ډاکټر انور

اړخيزې خبرې وکړې او پښتو ژبې او پښتنو ته ئې د نوموړي ارزښتمن کارونه او خلقونه خورا اغېزمن او د قدر وړ وګڼل او په ډېرو ښکلو لفظونو ئې د اروابناد

ډاکټر صاحب کارنامې او خدمات ياد کړل.

د افغانستان د علومو د اکېډمۍ هڅاند او تپاند غړي پوهاند ډاکټر سيد محي الدين هاشمي د ډاکټر ستوري په علمي او ادبي ژوند اوږده رڼا واچوله او نوموړے ئې د خپلې خاورې او اولس په دردونو دردمن او خواخوږے شاعر او ليکوال وباله او وې ووئيل

ساتلي بلکې له پښتونخوا نه ئې په خپل لګښت پر شمېر پښتنانه شاعران، اديبان او هنر مندان دغو غونډو او مشاعرو ته بللي هم دي او هلته ئې ورته ډېره

په مېلمه پالنه او عزت کړے دے، پنجابي د هم ووئيل چې زموږ د اکثر پښتنو شاعرانو په کورونو کښې پښتو نه وئيل کېږي خو د ډاکټر ستوري ټول اولادونه په پښتو خبرې ليکل او لوستل کړل شي او په تېره بيا بصير ستورے پکښې صاحب کتاب شاعر هم دے.

بناغلي صابر په خپلو خبرو

مېشتې ملګرې په توګه به ئې د هغه ستاينه او تعريف کاوه. هغه ووئيل چې پښتنانه په څلور برخو انګريزانو تقسيم کړي چې تراوسه ئې لاخپل قامي

وجود (تشخص) نه دے حاصل کړے او همدغه وجه ده چې لراو بر پښتنانه د مختلفو مسلو او ستونزو سره مخ دي.

ډاکټر سليم زياته کړه چې افضل خان لالا څو ځله د ډاکټر ستوري په بلنه د هغه ليدلو ته جرمني ته سفرونه وکړل او چې کله به مو پلار په سوات او پېښور کښې د نو په

سره مخ شي.

په دې درنه غونډه کښې امان الله نصرت او احمد شاه هوتکي خپل شعرونه چې د اروابناد کبير ستوري

اروابناد ډاکټر کبير ستوري د پښتو ادب له هغو ځلاندو ستورو څخه و چې تل ئې د خپل قلم له لارې د خپل ولس او قام دردونه او ناخوالې په ګوته کولې

په ياد ئې ليکلي و، واورول چې د غونډې برخه والو په تودو احساساتو هرکله کړل.

د غونډې په وروستۍ برخه کښې د غونډې صدر پروفېسر ډاکټر ياسين يوسفزي صدارتي وينا ته وبلل شو او نوموړي دا غونډه وستايله او د افغان کلتوري ټولنې مننه ئې

له ورسېده.

د دې درنې نمانځغونډې دويمه برخه مشاعره وه چې پر زيات شمېر مېلمنو شاعرانو پکښې خپل شعرونه او کلامونه واورول. د برخه والو ادبي تنده ئې خړوب کړه او ټولو ترې خوند واخيست. ځرګنده چې ګڼ شمېر شاعرانو غوښتل چې خپل شعرونه واوروي نو د کلتوري ټولنې کوربنو شاعرانو خپل نوبت مېلمنو شاعرانو ته ورکړو او د درنو او قدرمنو مېلمنو شاعرانو شعرونه او وېناوې ئې په چکچکو او تودو احساساتو هرکله کړل.

په دې يادګاري مشاعره کښې لاندې شاعرانو خپل منظوم کلامونه او خوږې غزلې واورولې: پروفېسر ډاکټر اظهار الله اظهار، پروفېسر ډاکټر انور علي انور، قاضي ډاکټر حنيف الله حنيف، اقبال حسين افکار، فضل مومند، سيد ولي خيال مومند، حيات روغاني، احد امين رهبر، حسان يوسفزي، غازي اجمل افغان، فريدو ملاګوري او يو شمېر نور...

افضل خان لالا زوی ډاکټر محمد سليم خان او اعزازي مېلمانه ئې پروفېسر ډاکټر اظهار الله اظهار، استاذ محمد هاشم غشريک، سيد صابر شاه صابر، اقبال حسين افکار، پروفېسر ډاکټر انور علي انور، ډاکټر استاذ عزيزالله حيصاري جبارخېل، پوهاند ډاکټر سيد محي الدين هاشمي، ډاکټر انور ظفري او قاضي ډاکټر حنيف الله حنيف وو.

د دې ستري او شانداري غونډې د دريځ چارې ډاکټر عالم يوسفزي او حبيب الرحمن ناوان ترسره کړې چې هر يو د پروګرام په بېلا بېلو برخو کښې په خپل نوبت د اروابناد ستوري په زړه پورې شعرونه لوستل او د هغه د ژوند او کار او زيار پاڼونه او ستاينه ئې په ډېرو خوږو او رنګينو لفظونو کښې کوله او غونډه ئې تر پايه ډېره تووده او ژوندۍ وساتله.

په پيل کښې د خوشحال خان د لېسې مدير استاذ مولانا فضل مولی توره کي د الله ج د سپېڅلي او خوږ کلام څو مبارک آيتونه تلاوت کړل او وروسته امان الله نصرت د افغان کلتوري ټولنې په استازيتوب راغلو مېلمنو

کښې زورېده.

نوموړي زياته کړه: اروابناد ډاکټر ستورے د پښتو ژبې يو خوږ ژبے او وتلے شاعر او سياستوال و او تل ئې په خپله شاعرۍ کښې د خپل وطن غمونو او ژوونکو حالاتو ته ځاے ورکولو او کومې شېبې ئې تورېدونه، ناکرېدې او ناروا ئې چې په پښتنه خاوره تېرېدلې هغه ئې خپل قلم ته سپارلې او د هغو تصويرونه او انځورونه ئې د کاغذ په پاڼو کښل او د تاريخ ځېږې ته سپارل.

د ډاکټر ستوري د شعر نومنه د خپل وطن له مينې جوړه شوې وه او په وينه کښې ئې د خپل اولس او خاورې د عشق او محبت سره ورګډ وو نو ځکه ئې په شاعرۍ د ملي احساس او ټولنيز فکر سپورے غوړېدلے ښکارېده او په هره وينا او شعر کښې ئې همدا رنګونه ښکاره او جوت و.

امان الله نصرت د ډاکټر ستوري ادبي او علمي خدمتونه او هلې ځلې وستايلې او نوموړي ئې د يوه ټولنيزو او ملي فکر او نظر د خاوند په توګه وستايه او هغه اره يې واسي خپلې خبرې وغزولې.

د اروابناد ادبي علمي او

ښطري د اروابناد ستوري په ادبي سرګرميو او سياسي او ټولنيزو فعاليتونو او علو خلقو خبرې وکړې او د هغه کارونه ئې وستايل له ډاکټر کبير ستوري سره ئې د خپل شخصي ژوند او ملګرتيا او د جرمني د سفر خاطرې شريکې کړې او د هغه د سياسي، علمي او پوهنيزو هلو ځلو ذکر ئې هم وکړو چې په المان کښې ئې ترسره کولې.

خوږژبي شاعر او نکره ليکوال اقبال حسين افکار هم په خپل وار د اروابناد ستوري په ژوند او مبارزه خپل نظر څرګند کړو او د نوموړي ادبي او علمي کارونه او ښوونه ئې وستايل.

د ننګرهار پوهنتون استاذ ډاکټر عزيزالله حيصاري جبارخېل د کبير ستوري په ادبي شخصيت او فن خپله رايه څرګنده کړه او د نوموړي کار او زيار ئې خورا ګټور، ارزښتمن او د قدر وړ وګڼلو.

د پښتو او اردو خوږژبي شاعر او ليکوال او د پېښور پوهنتون د اسلاميه کالج استاذ پروفېسر ډاکټر اظهار الله اظهار په خپل وار د ډاکټر ستوري په ادبي او علمي شخصيت هر

اروابناد ډاکټر ستورے د پښتو ژبې يو خوږ ژبے او وتلے شاعر او سياستوال و او تل ئې په خپله شاعرۍ کښې د خپل وطن غمونو او ژوونکو حالاتو ته ځاے ورکولو

چې ستوري صاحب د خپلو خلقو رښتينې ترجماني کوله او تل ئې په ښکاره د حق او انصاف غږ پورته کاوه.

د صابر د رڼا ملګرې تحريک مشر سيد صابر شاه صابر په خپله وينا کښې د ډاکټر ستوري څو خاطرې د غونډې له برخه والو سره شريکې کړې او نوموړے ئې يو ښه شاعر، ستجيده ليکوال او څېرک سياستوال وګڼلو او د هغه د ګڼ اړخيز شخصيت ستاينه او خلقونه ئې وکړه.

نوموړي زياته کړه چې د ډاکټر ستوري سفر ادب ته لوے خدمات دي ده ووئيل چې زما د ادبي جرګو په تاريخ کښې ځاے د ډاکټر ستوري د ادبي خدمتونو ذکر او ښکلونه شوي دي.

ډاکټر صاحب د جرمني په کولن ښار کښې زياتې علمي او فرهنګي غونډې په پر سر کړي دي او نه صرف پښتو ئې ژوندۍ

کښې د افغان کلتوري ټولنې په ځانګړې توګه د امان الله نصرت مننه وکړه چې د پښتو ژبې او ادب خدمت ته ئې اوږه ورکړې او د داسې لويو او مهمو غونډو په جوړولو سره د لر او بر پښتنو د يووالي او ورورولۍ اړيکې ټينګې او ژوندۍ ساتي او ترمنځ ئې د مينې او عزيزولۍ رښتې غوروي.

د غونډې مشر مېلمه ډاکټر محمد سليم خان د محمد افضل خان لالا او ډاکټر ستوري په خوږو او تودو اړيکو او اوږده دوستۍ تفصيلي خبرې وکړې او وې ووئيل له بده قسمته چې ما د خپلو رسمي دندو او بوختياوو له امله له اروابناد ډاکټر کبير ستوري سره مخ په مخ نه وو ليدلي خو پلار به مې تل د مرحوم ډاکټر صاحب د پښتونولۍ، مېړانې، مېلمه پالنې، پوهې، قابليت او وطن دوستۍ خبرې کولې او د يوه ښه دوست او زړه

ساختونو ساختونو به ئې له ډاکټر صاحب سره په ټېليفون خبرې کولې او د سيمې او وطن په سياسي حالاتو او د پښتنو په بدو ورځو به ئې يو تر بله خپل نظرونه سره شريکول. هغوی دواړه د پښتون قامي وحدت د نظريې پېروان وو د پښتنو د يووالي لپاره ئې خپل غږ پورته کړو.

د ډاکټر سليم له وينا وروسته بصير ستوري دريځ ته وبلل شو او نوموړي د ټولو مېلمنو نه مننه وکړه چې په غونډه کښې ئې ګډون وکړو او په خپل رانګ ئې د نوموړي د پلار اروا ښاده او خوښه کړه همدغه راز بصير ستوري د افغان کلتوري ټولنې له مشرتابه څخه شکريه وکړه چې د داسې يوې ستري، شانداري او پرتمينې غونډې په جوړولو کښې ئې هلې ځلې وڅه سپولي او د دې غونډې په برياليتوب کښې ئې زموږ سره اوږه په اوږه برخه واخسته او بيا ئې خپل يو نظم چې د خپل پلار په ياد ئې ليکلے و د نوموړي اروا ته ډالۍ کړو چې ټولو ګډونوالو خوښ کړو او له ښاوره غبرګون

وکړه چې د خپلو شاعرانو او پوهانو پاڼونه، ستاينه او خلقونه کوي او تېر شوي مشران هېرولو ته نه پرېږدي.

ډاکټر ياسين په ټولو غږ وکړو چې ښاغلي د خپلې مورنۍ ژبې پښتو د لا غوړېدنې او ځلېدنې لپاره دې ټول په پوره اخلاص خپل کار او زيار جاري وساتي او په دې لاره کښې دې له پخوا زيات ګړندي او د پام ور ګامونه واخلي.

ښاغلي ياسين يوسفزي د ډاکټر ستوري په ټولنيز شخصيت، سياسي ژوند او ادبي سفر او پوهنې هم په زړه پورې خبرې وکړې او د هغه سره د خپلو ليدنو څو لنډې خاطرې د غونډې د ګډونوالو سره شريکې او نوموړے ئې د يوه ښه شاعر، ليکوال او سياستوال په توګه د قدر وړ وباله او هغه هر اړخيز رښتونے شخصيت ئې په درنو الفاظو ئې ياد کړو.

د دې پرتمينې غونډې لومړنۍ ناسته د هېواد د ازادۍ د لارې د ستر مجاهد او مجتهد عالم حضرت مولانا چکنوري (رح) د لمسي الحاج مېرويس چکنوري په اختتاميه خبرو او دعا پاے

په دې نمانځغونډه کښې شاعرانو ژورنالست شمس مومند، خوږ ژبي سندرغاړي ارباب فضل رؤف، د پښتونخواه د براډکاسټرانو د اتحادیې مشر او خبر يال بخت رحمان، د VOA اشنا راډيو خبريال موسکا صافي، خوږ ژبي شاعر محمد قاسم مين، ښاغلي زمري ګمکوري، کامران سروري، ډاکټر مفتاح الدين، علاوالدين، سرور اقبال يوسفزي ايډوکېټ، عارف همدرد ساپي، شاهي خان مومند، نشاء الله ملکري، مېوند حبيبي، صفي الله سنګين، محسن صديقي، داود جبارخېل او يو شمېر نورو درنو علمي او ادبي شخصيتونو او د شعر او ادب مينه والو ګډون درلود.

د غونډې په دريمه او اخري برخه کښې چې ټنګ ټکور ته ځانګړې شوې وه استاذ زرولي افغان او ځيا سحر د موسيقۍ له سرونو سره د اروابناد ډاکټر کبير ستوري منتخب کلامونه په خپلو خوږو اوازونو زمزمه کړل چې اورېدونکو ترې خوند واخست. غونډه د شپې لس بجې په برياليتوب توګه سرته ورسېده.

ورځپانه وحدت پېښور
بانی: پیر سید سفید شاہ ہمدرد
ایڈیٹر: سید ہارون شاہ

د ډاکټر کبیر ستوري دلسم تلین په یاد

لیکن: شاه محمود میاخیل

زه نه غواړم چې د ډاکټر کبیر ستوري د ژوند په پوهنیزو (علمي) او سیاسي اړخونو وغږېږم، ځکه چې ګڼو دوستانو د هغه کتابونه، مقالې او شعرونه لوستي دي، او د ویلو لپاره به ډېر څه ولري .زه غواړم چې په دې وړه مقاله کښې د ډاکټر کبیر ستوري سره زما د شخصي اړیکو، تړاو او لیدنو کتنو په حقله څه ولیکم.

وړوکے وم، هغه وخت په کلونو نه پوهېدم، خو دا مې یاد دي د کابل په واصل اباد سیمه کښې د عمراخان په ابتدائیه ښوونځي کښې چې اوس د عمراخان لیسه ده، د دویم ټولګي (صنف) زده کوونکے وم، ډاکټر کبیر ستورے چې موږ ورته میرزا ماما ویل، جرمني ته د لوړو زده کړو لپاره روان و .نو، زما پلار خدائے بخښلي سیدمحمود حسرت چې په هغه وخت کښې د کورنیوچارو په وزارت کښې کار کولو، موږ یې د ځان سره واخیستلو او کابل هوایي ډګر ته یې یوړو چې د ډاکټر کبیر ستوري سره چې تازه د رحمان بابا د دولسم صنف نه فارغ شوي و، خدائے په اماني وکړو. د کابل هوایي ډګر ته ورغلو او دا زما لومړے ځل و چې هوایي ډګر ته لاړم .د کابل هوایي ډګر په رستورانت کښې چې د میدان د ودانۍ د بام په سر و، موږ چائے وڅښلے، د چائے څښلو نه وروسته مو کبیر ماما سره خدائے په اماني وکړه او ږے د الوتکې په لور وخوځید.

ښه مې یاد شي چې موږ ورته د کابل د هوایي ډګر د ودانۍ په بام ولاړو او ده د الوتکې له ونښه تر هغو لاسونه خوځول چې الوتکه والوته.

دا ۱۹۲۴م کال و چې ډاکټر کبیر ستوري د لوړو تحصیلاتو لپاره پخواني غربي المان ته لاړو .په هغه وخت کښې زه د ده په سیاسي افکارو، په مکتب کښې د زده کړې په کچه لو پانورو راته ورشه پاندي نه پوهېدم ځکه وړوکې وم او دده د شخصیت، پوهې او سیاسي افکارو اندازه مې نه شوه لګولے .زما مینه د ده سره یوازې د ماما ولي په بنیاد وه او په مور مې ډیر ګران و .

ډاکټر کبیر ستورے او زما بل ماما محمد نعیم چې دواړه د رحمن بابا په لیسه کښې شاګردان و او هلته په لیلیه کښې اوسېدل نو اکثره به د پنجشنبې په ورځ زموږ کورته راتلل، ځکه چې هغه وخت د لیلیې د شاګردانو او محصلینو لپاره په کابل کښې دا یوه لویه تفریح وه، چې د جمعې شپه یا ورځ د خپلو خپلوانو او دوستانو کورونو ته ورشي .د پوهنتون د دورې په وخت کښې ما هم د دې تفریح خوند لیدلے.

زما خدائے بخښلے پلار ډیراجتماعي او سخي سړے و، نو د جمعې په ورځ به زموږ نور خپلوان هم چې په مختلفو مکتبونو کښې یې درس ویلو، زموږ کورته راتلل او په اصطلاح به میله به ګرمه

وه .په هغه وخت کې چې د جامو وینځلو ماشینونه نه وه نو زما مور به همېشه د دې خپلوانو جامې هم وینځلې او پلار به مې زیاتره ته یو څه جمعګي یعنې د جمعه د ورځې د خرچې په نامه لس شل روپۍ هم ورکولې .خو زما د ماماګانو کورنۍ چې په سیمه کښې یو څه اندازه متموله کورنۍ وه، کله به چې دوی دواړه کابل ته راتلل نو نیا به مې ورته د خرچې پیسې ورکولې، دوی دغه پیسې زما له مور سره ایښودې، او د جمعې په ورځ به یې تري د یوې اونۍ د خرچ لپاره یوه اندازه بیرته اخیستې .د دې پیسو برسېره کبیر ماما یوه بله پټه پانګه هم لرله، او هغه دا چې زما نیا به زما مور ته یو څه پیسې پټې ورکولې، او ویل به یې چې، کبیر بد مصرفه ږے نو که پیسو ته یې ضرورت شو، دا پیسې به له نعیم نه پټې ورکوې چې هغه خفه نشي .د کبیر ماما بد مصرفي همدا وه چې ده به پیسې په خپلو دوستانو او اټیوالانو مصرفولې، او د پیسو جمع کولو او زیاتو پیسو د راټولو شوقي نه و او تر اخر د عمره پورې یې همدا حال و .په هغه وخت کښې به د خارج نه محصلین خپلو کورونو ته یو څه پیسې لیږلې خو ده به د جرمني نه کابل ته د راتګ ټکټ هم دکوره غوښته .زما پلار د اونښتوب نه برسېره، وخاص کورنۍ په ابتدائیه ښوونځي کښې د ډاکټر کبیر ستورے استاد هم و .دا چې ډاکټرستوری د مکتب په دوره کښې همېشه اول نمره و نو په پلار مې ډیر زیات ګران و.

پخوا چې ټیلیفونونه عام نه و نو د یو بل سره رابطه چندان نه وه، او څوک به چې خارج ته لاړو نو میاشتې او کلونه به یې تیرول چې دی د کور او کور دده له حاله خبر شي.

ډاکټر کبیر ستورے چې په اول ځل د غربي المان نه په رخصتۍ افغانستان ته راغے، نو زما د پلار وظیفه په مزارشریف کښې وه، موږ ورسره هلته وو، نو ږے مې ونه لید .دویم ځل ږے ۱۳۵۰هجری شمسي کال کې کورته راغے، نو زه د خاص کورنۍ په لیسه کښې د نهم ټولګي زده کوونکې وم یعنې تقریبا پس له اته کلونو مې ولید .دا چې زموږ د خپلوانو او تره وروزو تعداد زیات و، ده به هر خوري ته ویل چې که ډیرې نه د ورځې لس ځلې هم راځې، ماته به ځانونه رامعرفي کوئ؛ چې نومونه مو یاد کړم او له یاده مې ونه وځي.

په دې وخت کښې ډاکټر ستورے په خپله ملتري کار کولو او د ذهني کچې د معلوماتو لپاره یې د ریسرچ سوالونه جوړ کړي و او دا یې د خاص کورنۍ او عمرالخان په لیسو کښې په شاګردانو ازمائیل .په خصوصي توګه یې په خپلو خپلوانو هم تجربه کړ او ماته یې وویل چې خوریه اسا ذهن ډیر ښه ږے او دا چې زه هم په مکتب کښې اول نمره وم نو راته یې وویل چې ته به خامخا خارج ته ځې، نو د اوس نه ورته ځان اماده کړه .په دې وخت کښې ده د پښتو او د پښتنو د حقونو خبرې هم کولې، خو زموږ پېرې چندان سر نه خلاصېده نو یوه ورځ ورته ما ووېل چې ماما په کور کښې دا ستا خبرې څه په درد خوري ځکه دلته خو نور قومونه نشته او ټول په پښتو خبرې کوي .ده راته ووېل چې دا سمه ده چیرته چې نور قومونه نشته نو زموږ د نورو قومونو سره څه حساسیت هم نشته خو په خارج کښې د نورو قومونو کسان ځانونه افغانان معرفي کوي او پښتنو ته کوچان اوډبوی کسانو خطاب کوي چې دوی د لر او بر پښتونخواه په سیمه کښې تګ او راتګ کوي اود افغانستان دایمي استوګن نه دي .خو ددې خلاف بیا په کابل د افغان نوم یوازې د پښتنو ګڼي او پښتنو ته د افغان غول خطاب کوي او ځانونو ته افغانان نه وایي .دالسې دوګانه برخورد سړی مجبوروي چې د پښتنو د هویت او حقوقو لپاره مبارزه وکړي.

په دغه وخت کښې ډاکټر کبیر ستوري او یو شمیر نور ملګرو لکه قدوس تندر، د المان په دویچې ویلي راډیو کې د پښتو ژبې پروګرام نوی پیل کړي و او موږ ته یې ویلې چې تاسې باید هره اونۍ د ټولو دوستانو او خپلوانو له خوا دوه سوه لیکونه راولیږئ چې وو ایې دوی د پښتو پروګرام اوري او خوښ یې ږے .دا لیکونه به موږ لیکل او د پوسټې له لارې به مو دویچې ویلي راډیو ته لیږل. د هماغه وخت د کوچنیونو او د ډاکټر کبیر او د دة د ملګرو د هلو ځلو له امله د دویچې ویلې په راډیو کښې د پښتوپروګرام اوس هم شته دي.

څنګه چې مخکښې مې یادونه وکړه، هغه وخت کې ټیلفونونه نه و او د لیکونو د وړو راوړو چاره ستونزمنه وه، نو کله به چې میاشتې، میاشتې وروسته د کبیر ماما کوم لیک راورسید، نو زما خدائے بخښلي نیا به هغه لیک د بالښت لاندې ایښودلے و، او چې موږ به یې لیدو ته ورغلو، زر به یې راواخیست او ویل به یې ماته د کبیر خط ووایه، چې تسل مې پرې وشي .

نور بیا

د ډاکټر کبير ستوري دلسم تلين په ياد

ليک: شاه محمود مياخيل

اخري برخه

دا ليک بــه يې پــه بيـلابيلو خـلـقو دومره ډېر ولوسته چې اخر به دليک کاغذ وشړېده، او پـه هـمدې به يې د کبيرماما د ليدو تنده ماتوله.

کـله چې ډاکټر کبير ستوري د دويچې ويـلې پـه راډيو کښې کـار پيل کړ او د پښتو خبرونه به يې ويل نو دا زما د نيا لپاره يوه لويه سرګرمي وه .راډيو به يې د کټ سرته پروت ؤ او هره ورځ بــه يې د دويچـې ويـلې خبرونه اوريدل .که څه هم زما نيـا ډيـره پـوهه او مدبره ښځه وه، خـو د هـغـه وخت د افغانو ښځـو فـکـري پـراختيا ته پام ســره ،فـکـر نــه کـوم چې د خبـرونـو نــه يې څـنـدان خوند اخيسـت خو هدف يې يوازې دا و چې د خپل زوی غږ واوري.

په وروستيو وختونوکښې چې ټيپ ريـکـارډر (ټيپـونــه) راووتـل، نو بيا به ډاکټر کبير خپلې خبرې ثبتولې او دليک په ځای به يې د ټيپ کيستونه خپــلې مــور او کـورنۍ تــه راليږل .نيـا به مې بيا هم ټيپ ريکارډر د کټ سر ته پروت او د شپـې د ويدو کيدو نه دمخه بـــه يې ويـلـې چې د کبيـري کيسټ وروا چـوئ چې زه ويده شم.

ډاکټـر ستـوری بيـا الـمان تــه لاړو او څلور کاله وروسته چې زه د دولســم صـنف نــه فـارغ شـوي وم، بيـا افـغـانـستان ته راغـي .دی بــه مــعـمـولاً څلور کـاله پس د اوړي په موسم کې افـغـانـسـتـان ته راتلو .په دې وخـت کښې زه يـوځــه پــه سيـاسي مسايلو پوه شوی وم، او د سيــاسـي بـحـثـونو لږ مې پيـيـلـې شـو، که دا مبالغه ونه کړم نـو پــه خـوريونو کې زه ورتــه ډير ګران وم او فکر کوم چې دا به د ده سره زما د فکری تړاو او پــه سيـــاسـي مــسـايـلو دبحث له امله و .موږ کله هم پــه مـادی مـسـايـلو بحث نــه کـوولو اما نورو خپلوانو به په مـادي مـســايلو ډېر بحث کولو چې څـومـره دې معاش دی او څه کوې او داسې نور ...د ده بـــه دا خبــري چــنـدان نـــه خوښېدې .په کابل کښې يوه ورځ پـــه ښهرنـو کې پښتـو ټـولنې ته د تګ په تکل روان و، ده لـــه يـوچانـه پـه پښتو د پښتـو ټولنې د پټې پـوښتـنه وکړه، خو هـغـه تــن ورتـه په دری خواب ورکړ .ده ورتــه ووئيل چې زه په دري نه پوهيږم که دا راته په پښتـو ووايې نـو ښـه بـه وي. هـغـه نـفـر پـه تکليف پښتو ويله او چې حرکت مو وکړ نو راتــه يې وويـل چې خوريه ښه پـه تـکـلـيف خـو مې پـه دې بيچـاره پښتو وويله .زمـا په

انــد دا دهـر چـا حـق دی چې خپـلـي ژبې تــه پـخپـلـه کـار وکړي او نـــور څـوک پـــه دې متهـم نه کړي چې ولې خپلې ژبې تـه کار کوي .متـاسـفـانه زمـونږ اکثـره پښتـانــه نور د خپـلـو نيـمګړتيــاو لپـاره مـلامتـوي او پخپلـه هيڅ نـه کوي نودا سم کار نه دی.

ډاکټـر کبيـر بېرتــه الـمـان تـه لاړو او د وطـن حـالات ســره بدل شو .په ۱۳۵۷ هـجری شمـــی کال کښې په کابل کښې د ثور کودتاه وشوه، دښنـه او بهر د خلقو ترمنځ د اړيکو ساتلو چينلونه لــه مينځه لاړل، تماسونه پرې شـول، د مـــرګ او ژوند خبـره شـولــه او په دې لړ کښې موږ مهاجر شولو او زيات وخت مو پـه غـرونو کښې تير کړ او بيا پـاکستان ته مهاجر شولو .) د هـجرت او مهاجرت قصې زما پـه کتاب د واقعيتونو په ښهير کښې لوستلې شئ) .يو وخت مو سره تماس ونيوه څکه دی هم د خپـلـې کـورنۍ سره بې رابطې شوی و .زمـا بل ماما محمد نعيم هم مهاجر شوی و او د کبيـر ماما کورنۍ او مشر ورور عبدالجليل ملنګ لا هم په افغانستان کښې وو

دی مو وهڅولو چې پيښور ته راشي او هـم بـــه د ده کورنۍ پيښور ته راشي او د يويل سره بـه وګورو .هـمـاغــه وو چې په ۱۹۸۳م کـال دجنـوری پـــه ميــاشـت کښې پيښـور تـــه راغـی .پـــه پيښـور کښې د پښتـنـو دخيـنې مشرانو سره دليـلـو نه وروسته لا يوه اونۍ نــه وه تيـره چې د پـاکـستان د حکومت له خوا ونيول شو .په هـغـــه وخت کښې جـنـرال ضيـاالـحق د پاکستان نظامي واکـــدار و، د جهــــادي ډلـــو طرفـداری يې کوله .هـغه په پاکستان کښې او هم د افغانانو پـــه منځ کښې د ملـي ډلواو کسـانـو د رشد سخت مخالف و .په دغـه وخت کښې ما په پيښـور کښې د يـو امريکايي پـروفيسـر سره د انتروپولوجي ريسرچ کولو.

ډاکټـر کبيـر ستـوری تقريبا اتـلـس ميـاشتې د پيښور په سـنـتـرل جيل کښې بندي و او حتـی د خپلې کورنۍ سره يې هم ليـده کـاته نه کيدل .د ده سره به موږ هغه وخت ليدل چې دی بـــه يې هـــره اونۍ هتـکـړی پـــه لاس د کچهرو مـجسـتـريټ (قـاضـی) تــه راوستـو، او موږ به د لرې نه ليـده او کــه کـلــه بــه چې د سپـاهيـانـو مزاج ښــه وه او د چـايـوپـه نـامــه بـه مو يو څو روپۍ ورکړې ، نود دې زمينه بــه يې بـرابـرولـه چې يو څو خبرې ورسره وکړو .د ده ګناه دا وه چې ولـې يې د پښتـنو د مشـرانـو ســره ليـدنـه کتـنـه کـوله .د پيښـور پـه سنټرل جيـل او بـاالخاصه په لومړيو شپـو او ورځو کښې چې موږ تـــه د ده دبـنـدی کيدو ځائے درک نه و معلوم، د پيښور په بــالاحـصــار کښې شکنجــه شـوی و او پـــه تـورو خـونو کښې کـوټــه قـلـفي و .پــه پيښــورکښې د جــرمـنــی قــونـصـل به هره اونۍ سنټرل جيل ته د ډاکټر کبير ليدو ته ورتـلـو، څکه دی د الـمان غږ راډيـو کـارکوونکي و او موږ ته به يې اطمينان راکولو چې نــن دی کــه سبــا، دی بــه خلاصيږي .پـــه دې نن سبا کښې اتلس مياشتې ووتلې. کله چې د پاکـسـتـان حکومت د جـرمـنــی پـه منځګړيتوب تـــصـــمـيـم ونـيـولــو چې ډاکټـرکبير راخلاص کړي نو مـوږ تــه ئې احوال راوليږلو چې د دۀ پـلسپورټ راوړې چې دی مـوږ لـــه پـاکـسـتـان نــه وکـاږو او جرمني ته يې ليږو. مـا د دۀ پـاسپـورټ چې موده يې تيـره شوې وه، واخيسـتـو او اسـلام اباد ته مې د جرمنی سـفارت ته يوړو چې موده ئې تـــمـديـد کړي .د جــرمـنـي سـفــارت ډيـر ښــه وضعيت وکړاو ډيــر ژر يې پـاسپـورټ تمديد کړو .دا ۱۹۸۴م کال و، دی يې لـــه زندانه خوشې کړ، خـو کـورتـــه د تلو اجازه يې ورنـــــه کړه، او کــورنۍ يې ورسـره د لږې شېبې لـپـاره د پيښـور پـــه يـوه هوټل کښې وليـدل، زمـا بـل مـاما محمد نـعـيم او زه ورسره اسلام اباد تــه لاړو او پـــه هوايي ميدان کې مو ورسره خدای په اماني وکړه .د حـالاتـو د خرابيدو له امـلـه بيـا زمـونږ رابطه سره مـنـظـمــه نه وه او يوازې کله کـلـه بـه مو دده کوم ليک تر لاسه کړ .مـا ته يې وويل چې جرمني ته راشه او که جرمنی دی خـوښ نـه و نو بيرته تللې شې او ژبـه بـه خـو ياده کړی خـو مـوږ هم د جهـاد او د افـغـانـسـتان د ازادی په ولولو کښې غـرق وو نـو جرمني ته مې د تګ زړه ښـــه نـــه کړ او پـلار مې هـم راتـه اجـازه نـه راکوله.

په ۱۹۸۷ م کال کښې چې ما د امـريـکـا غږ راډيو لـپـاره د مـحلـي خبريال په توګه کار کولو او هم د بلجيم د کميټي مـرستيـال وم، په يوه رسمي سـفـر امـريـکې تـه لاړم او د امـريـکې نه د راتګ په وخت کښې بلجيم تـه ددوه اونيـو لپاره لاړم .مـا د کبير ماما سـره اړيـکـه ونيوله چې کـــه بـلـجـيـم تـــه راشي نو ښـه بـه وي څکـه په هغه وخت د اروپـا ټـولـنـه نــه وه جوړه شوې او د ويزې مشکل و .کبيــر مــامـــا د بلجيم د ليـږښـار تـه زما د ليدو لپاره راغـی او نيت مو و چې هالينډ ته لاړ شو .خو دا چې د ده سره نقشه نه وه نو څو ساعته مو د ليـږپـه ښـار کښې سرګردانه تيـر کړل چې بـالاخـره دشپې يـوه بـجـــه شـوه نو راتـــه ئې ووئيـل چې، ملبه بيرته زما د کـوريــه کره ښکته کړې، دی بــه بـلـه اونۍ راشي، بيـابـه هـالينډ ته لاړشو .هـغه وخت لـوګـــزامبــورګ، هــالـنيد او بـلجيم دبنيلاکس په نامه يوه ګډه ويزه درلوده .کبيــر ماما يـوه اونـی وروسته بيا بلجيم تـه راغـی او دهـغـه ځائے نه د هـاليـنـډ روټردام ته لاړو .په لاره مــو ښې قـصې وکړې او شپـه مو سره يوځای تيره کړه. پـه سبـا دی بيـرته جرمنی ته لاړو او زهٔ د پيښـور پـه طرف وخـوځيدم .يـوه خبـره چې ما ورتـــه وکړه هـغـــه دا وه چې، پيښـور د ځوانانو لپاره او دده د اولادونـــو د زده کړې لـپـاره بـرابـر چاپيريال نه لرې، اوکه خپـلــه کـورنۍ جرمنۍ تــه راولې نو ښه به وي .ده راته وويل چې زه به پيسې درليږم او څـــوک چې سبـــق وايـــي مـرستـه ورســره کـوه خو که دوی دلتــه راولم نو دوی بيا د وطـن او خپلو خلقو په درد نه خوري.

پـــه هـــرحـال دی د خپـلې کـورنۍ نـــه لـرې پـاتې شو څکه پيښور ته راتلې نه شو او افـغـانـسـتـان کښې جنګ روان و .پـــه ۱۹۹۰م کـال زه امـــريـکـې تـــه لاړم او پـــه ۱۹۹۲م کـال کښې جـرمني تـــه د ده د ليدو لپاره لاړم. يـوه اونۍ مـو سره يوځـای تېـره کړه، د دويـچـې ويلې الـمان غږ راډيو مو وليده او د کولن د پوهنتون نه چې ده پـکې هـلـتــه خپله دوکتورا اخـتـــي وه، ليـدنـــه کتـنـــه وکړه .د ده ژونـد ساده و او د ده کـوټـــه د ډيـروافـغـانانو، پښتـنـو او خپـلوانو لـپـاره ډيره وه .ډيـر بـحثـونه مو د وطن د حالاتو په حقله وکړل او ترې د تګ په وخت کښې مې ورتـه بيا تکرار کړه چې د افـغـانـسـتـان حالات معلوم نـه دي نـو ښـه بـه دا وي چې خپـلـه کـورنۍ جرمنې تـه راولې .ده راته ښه وکړه او د هغې نه وروسته يې لومړی خپـلــه ميـرمن او دوه زامن نـسـيـم سـتـوری او ايـسـمـل ستوری جرمنې ته بوتلل.

په ۱۹۹۲م کـال کښې چې کله د سـوات مـحـمـدافضل خان لالا، د بينظير بهټو په کابينه کښې د شـمـالـي علاقه جاتو وزيـر و، ډاکټر کبير ستـوری يې رسـمي ميلمه کړو او پس لـــه دولـــس کـلـونـو يوځل بياپاکستان ته راغـی .په دغه وخت کښې زه هـم د امريکې نـــه پــاکـسـتـان تـه د خپلې کـورنۍ د ليـدو لپاره راغلے وم .د اســـلام ابــاد هـــوايي ډګــرکښې ورتـــه خـــان لالا پـخپـلـه هرکلې ووايه او بيا د خان لالا کورته لاړو .شپه مو هلـته وکړه او د هغه ځائے نه د خـان لالا ســره سوات لاړو .د ســوات نــه وروسته چارسدې تـه راغـلـو او د ولي خان سره مـو وليـدل، هـمـداشان مو په اکـوړه خټک کښې د اجـمـل خټـک ســــره وليـــدل .يـوه مياشت يې په پاکستان کښې تيـره کړه او بيا بيرته جرمني ته لاړو .پـه دې وخت طالبانو کـــابـل نيـولی و او سيــاســي بـحثـونه ډير ګرم و .ولي خان وويـل چې پــاکـســتــان خو د طـالبـانو حمايت کوي خو په حـقيـقـت طـالبان د پاکستان لپاره ډير خطرناک دي.

-اخـر ځـل زمـا په خيال چې ۲۰۰۵ م کال په منی کښې ما کبيــر مـــامـــا وليـده چې زه جـرمـنـي د منشن ښـار سره نږدې د اوبـر امـرګاو په سيمه کښې د نـــاټـــوتــعـلـيــمـي مـرکـزکښې د ليـکـچر لپاره تـللے وم او يو دوه شپې مې د ده ســـره هـم پـــه ويـسـلـنګ ښـارګوټي کښې وکړې .پـه هـمدې پيـره راتـه د ده کورنۍ وويـلې چې کبيـر مـامـا ستا خبـره مـنـي او که تشويق يې کړې چې د زړه عــــمـلـيــات وکړې نـو ښـــه بـه وي .ما چې ورتـــه دا خبـره ياده کړه نو ده راتـه عملي دلايل وويل چې د زړه عـمـليات د ما لپاره فايده نـه لـرې او د زړه عمليات يې ونه کړ .په همدې وخت کښې يـوه شپــه نـا وختـه چې تقريبا يــوولــس بـجې به وې نو راته يې وويـل چې خـوريه څه بهر بـــه ووځـو او قدم بــه ووهواو ازاده هـوا بـــه تـنفـس کړو .د ويـسـلـينګ پـه ښار کښې مو قـدم واهــه چې يـو ترافيکي څـراغ تــه ورسيـدو او انتظار مـو کولو چې څراغ شين شي او موږ د سړک نه پورې وځو. پــه دغـــه وخـت کې ده راتــه وويل چې خوريه !زما تقريبا څـلـويښت کاله وشول چې زه پــه جـرمـني کښې اوسيږم، دلتــه مې لسانس، ماستری او دوکتـورا واخـسـتـلـــه او د دې خـلـقو په ژوند، کلتور او ژبه هم ښه پوهيږم خو ما ته داسې ښـکـاري لکـه چې مـا دلتـه څـلـويښت ورځې تيرې کړې وي او هيڅ مې زړه دلتـــه نـه دی نښتے .بـلـه خبره يې راته دا وکړه چې ده يـــو وخـــت فـکـرکولو چې افغانـستان ته بـه ځې، ښه کتابونه به ليکي او پـه اکـاډميک ډګر کښې به ډيـر کـار کـوي خو زياته يې کړه چې زمونږ د پښتنو ژوند داسې کارونو ته چمتو نه دی څکه اکاډيميک کارونه ځانته فـکر او ژوند غواړي او موږ هيڅ وخـت ځـانته کيږو نه نو اوس هـــره ورځ پــــه دويـچـې ويـــلـې راډيـو کښې د خپـل رسمی کار نه دوه دری ساعته زيــات پــاتې کيږم او يوځـه ليکم .کـه واړه کـتـابـونه هم وی بـايد چاپ يې کړم او اوس وخت کښې لوی لوی کتابونه هـــې هم څـوک نـه لولي .ده وويـل چې د شـعرونو ويلو نه زمـــا مـطـلـب دا دی چې دا د پښتـو شـعـرونـــه هنرمندان ريـکـارډ کړي او د پښتـنو په کـورونـــو کښې يې خـلــق واوري .بـلـه مهـمه خبره يې راتـــه دا وکړه چې ده زمـا ياد داشتـونه ليدلي و نو راته يې وويل چې خوريه دی پسې مه ګـرځـه چې ښـــه تـحقيق او ريـســرچ وکړې او بيـا کتـاب چاپ کړې نو ښه به دا وي چې خپـل ياد داشتونه منظم کړې او چاپ يې کړې .په دی وخت کښې مـــا د کـورنيـوچارو د وزارت د معينيت نه استعفی ورکړې وه او زيـات شخصـی ياد داشتونه راسره وو نو ما هـم ورته لستونې رابډوهل چې، خپل ياد داشتونه چاپ کړم او دا دی اوس زمـا اتــه کـتـابونه چاپ شوي او درې نـور چـاپ تـــه تيار دي خو يـوازې يـــو کـتـــاب چې د بيړنۍ لويې جرګه په اړوند و، هـغـه کبيـر ماما وليد او نور يې ونه وليدل .

کـاشکي چې دی ژوندی وے او زمـا دا نورې ليکنې يې هم ليـدلې وے څکه دی د علمي کـارونو په ارزښت پوهېده،او هـميشه به يې زه تشويقولم. خـو ژونـد هميشــه نيمګړے دی، او د انسـان اميـدونـه نه پـوره کيږي، الـلـه تعالی دې هغه وبخښي او جنت فردوس دې نصيب شي . (امين).

چاربيته

اروښاد عبدالواحد تهيکدار

اوګوره ديدب زما
سل مې په اردل کښې ځي
سل مې غلامان دي سل اسونه په سل لارې ځي
سل په کښې ربارې ځي
سل مې محلونه دي
سل مې برجلونه دي
سل پر کښې ډالونه دي
سل پرې اويزاندې کتارې دي د غضب زما
اوګوره ديدب زما
سل دي جلاديان په کښې
سل دي دورشچيان په کښې
سل دي نوکران په کښې
سل مې لګيدلي خنجرونه په اوربل کښې ځي
سل مې په اردل کښې ځي
سل دي سهيلي زما
سل ګډې چيلي زما
سل پرې سيلي زما
سل مې کجاوې د سلو سترګو راته دارې ځي
سل په کښې ربارې ځي
سل مې صفتونه دي
سل مې نويتونه دي
سل مې جماعتونه دي
سل مې شجرې دي سل کتابه د نسب زما
اوګوره ديدب زما
سل مې سفيرې کوي
سل زميندارې کوي
سل مې نوکرې کوي
سل مې په قلبو پسې جامبرې په غوبل کښې ځي
سل مې په اردل کښې ځي
سل مې ماشومانې دي
سل په کښې خوانانې دي
سل مې بوډې ګانې دي
سل مې مخکښې روستو سل کمعقلې
سل هوښيارې ځي
سل په کښې ربارې ځي
سل د شراقت په کښې
سل د شرارت په کښې
سل د حفاظت په کښې
سل په کښې د روم دي سل د ترکو د عرب زما
اوګوره ديدب زما
سل دي دورانې په کښې
سل دي جرمنې په کښې
سل کوي خانې په کښې
سل سل اشرفۍ تړينه جلبې ته يو غزل کښې ځي
سل مې په اردل ځي
سل د باغيچو سره
سل مې د مورچو سره
سل د تمانچو سره
سل دي (تيکداره) په جاژونو کښې بمبارې ځي
سل په کښې ربارې ځي

☆☆☆

امان الله نصرت

د ډاکټر کبير ستوري په ياد د افغان کلتوري ټولنې غونډه او مشاعره

افغان کلتوري ټولنې د مې په شپارسمه نېټه د پېښور په سپرينګ کارنيول هوټل کې د افغان نوميالي شاعر ليکوال او سياستوال ډاکټر کبير ستوري د نمانځغونډې ټاپيا کړې وه چې د لر او بر زيات شمېر شاعرانو، اديبانو، پوهانو او د شعر او ادب استادانو او مينه والو پکې ګډون درلود، د دې لويې او درنې غونډې د صدارت لپاره د پروفيسر ډاکټر اباسين يوسفزي نوم غوره شو، مشر مېلمه يې د افضل خان لالا زوی ډاکټر محمد سليم خان او اعزازي مېلمانه يې پروفيسر ډاکټر اظهارالله اظهار، استاد محمد هاشم غمشريک، سيد صابر شاه صابر، اقبال حسين افکار، پروفيسر ډاکټر انور علي انور، ډاکټر استاد عزيزالله حيصاري جبارخيل، پوهاند ډاکټر سيد محی الدين هاشمي، ډاکټر انور ظفري او قاضي ډاکټر حنيف الله حنيف وو.

ددې ستري او شانداري ناستې د دريځ چارې ډاکټر علم يوسفزي او حميدالرحمن نادان ترسره کړې چې هر يو د پروګرام په بېلابېلو برخو کې په خپل نوبت د اروښاد ستوري په زړه پورې شعرونه ولوستل او د هغه د ژوند او کار او زيار يادونه او ستاينه يې په ډېرو خوږو او رنګينو لفظونو کې کوله او غونډه يې تر پايه ډېره توده او ژوندۍ وساتله.

په پيل کې د خوشحال خان دليسي مدير استاد مولانا فضل مولی ثوره کې د الله ج د سپېڅلي او خواږه کلام څو مبارک اېتونه تلاوت کړل او وروسته امان الله نصرت د افغان کلتوري ټولنې په استازيتوب راغليو مېلمنو ته ښه راغلاست ووېلو او د ډاکټر کبير ستوري په ژوند او ادبي او ټولنيزو خدمتونو يې رڼا واچوله.

امان الله نصرت په خپلو خبرو کې وويل:

اروښاد ډاکټر کبير ستوری د پښتو ادب له هغو ځلانډو ستورو څخه و چې تل يې د خپل قلم له لارې د خپل ولس او قام دردونه او ناخوالې په ګوته کولې او په هېواد کې يې د ځوان کول د بيدارۍ او د افغانانو د ملي شعور او سياسي بصيرت د پياوړتيا لپاره کار او فعاليت کاوه او خپلې هڅې او هلې ځلې يې جاري ساتلې. ډاکټر کبير ستوري د خپلې خاورې او ولس په ښو ورځو او دردونو دردېده او وخت په وخت يې د خپلو خلکو په ويرجنو او غمجنو حالاتو اوښکې توييولې او د هغوی په بې وسۍ او بې کسۍ ژوبله.

نوموړي زياته کړه:

اروښاد ډاکټر ستوری د پښتو ژبې يو خوږ ژبی او وتلی شاعر او سياستوال و او تل يې په خپله شاعرۍ کې د خپل وطن غمونو او ځوروونکو حالاتو ته ځای ورکړی او کومې غمېزې، ښورېدونه، ناکردې او ناروا وې چې په پښتنه خاوره تېرېدلې هغه يې خپل قلم ته

سپارلې او د هغو تصويرونه او انځورونه يې د کاغذ پر پلو کښل او د تاريخ ګېډې ته سپارل.

د ډاکټر ستوري د شعر تومنه د خپل وطن له مينې جوړه شوې وه او په وينه کې يې د خپل ولس او خاورې د عشق او محبت سره ورګډ و نو ځکه يې په شاعرۍ د ملي احساس او ټولنيز فکر سيوری غوړېدلی ښکاري او په هره وينا او شعر کې يې همدا رنګونه ښکاره او جوت وو.

امان الله نصرت د ډاکټر ستوري ادبي او علمي خدمتونه او هلې ځلې وستايلې او نوموړی يې د يوه ټولنيزو ملي فکر او نظر د خاوند په توګه وستايه او د هغه اړه يې دلسې ځينې خبرې وغږولې:

د اروښاد ادبي علمي او اجتماعي هلې ځلې او کارونه او پښتو او پښتنو ته خدمتونه ټلپاتې د قدر وړ او نه هېرېدونکې دي چې که هر څومره يادونه او ستاينه يې وکړو بيا به هم کمه وي او موږ يې حق نه شو پوره کولای.

موږ د پښتو ادب او پښتو ژبې د دغه لوی خدمتګار کار او زيار او مبارزې ته د قدر په سترګو ګورو، پېرې ويلړو او ځانونه ددې درونه پښتون مشر، خوږژبي شاعر او اديب او په خپل وطن او ولس مين سياستوال د خدمتونو پوروړي ګڼو.

وروسته استاد محمد هاشم غمشريک د ډاکټر ستوري په ادبي او ټولنيز ژوند اوږدې خبرې وکړې او د نوموړي په سياسي فعاليتونو او ټولنيزو خدمتونو يې په زړه پورې رڼا واچوله او اروښاد ستوری يې هر اړخيز شخصيت (سرچوب) وباله چې په هر ډګر يې د خپل قابليت او ورتيا ډېره روښانه ساتلې وه.

وروسته بيا ډاکټر انور ظفري د اروښاد ستوري په ادبي سرګرميو او سياسي او ټولنيزو فعاليتونو او هلو ځلو خبرې وکړې او د هغه کارونه يې وستايل له ډاکټر کبير ستوري سره يې د خپل شخصي ژوند او ملګرتيا او د جرمني د سفر خاطرې شريکې کړې او د هغه سياسي، علمي او پوهنيزو هلو ځلو ذکر يې هم وکړ چې په المان کې يې ترسره کولې.

خوږژبي شاعر او تکړه ليکوال اقبال حسين افکار هم په خپل وار د اروښاد ستوري په ژوند او مبارزه خپل نظر څرګند کړ او د نوموړي ادبي او علمي کارونه او نوښتونه يې وستايل.

د ننګرهار پوهنتون استاد ډاکټر عزيزالله حيصاري جبارخيل د کبير ستوري په ادبي شخصيت او فن خپله رايه څرګنده کړه او د نوموړي کار او زيار يې خورا ګټور، ارزښتمن او د قدر وړ وګاڼه.

د پښتو او اردو خوږژبي شاعر او ليکوال او د پېښور پوهنتون د اسلاميه کالج استاد پروفيسر ډاکټر اظهارالله اظهار په خپل وار د ډاکټر ستوري په ادبي او علمي شخصيت هر اړخيزې خبرې وکړې او پښتو ژبې او پښتو ته يې د نوموړي ارزښتمن کارونه او هڅونه خورا قيمتي او د قدر وړ

وګڼل او په ډېرو ښکلو لفظونو يې د اروښاد ډاکټر صاحب کارنامې او خدمات ياد کړل.

د افغانستان د علومو د اکاډمۍ هڅاند او تياند غړي پوهاند ډاکټر سيد محی الدين هاشمي د ډاکټر ستوري په علمي او ادبي ژوند اوږده وينا وکړه او نوموړی يې د خپلې خاورې او ولس په دردونو دردمن او خواخوږی شاعر او ليکوال وباله او ويې ويل چې ستوري صاحب د خپلو خلکو رښتينې ترجماني کوله او تل يې په ښکاره د حق او انصاف غږ پورته کاوه.

د صابر د رڼا ملګرې تحريک مشر سيد صابر شاه صابر په خپله وينا کې د ډاکټر ستوري څو خاطرې د غونډې له برخه والو سره شريکې کړې او نوموړی يې يو ښه شاعر، سنجيده ليکوال او خيرک سياستوال وګڼلو او د هغه د ګڼ اړخيز شخصيت ستاينه او خلونه يې وکړه.

نوموړي زياته کړه چې د ډاکټر ستوري مسافر ادب ته لوی خدمات دي نه وويل چې زما د ادبي جرګو په تاريخ کې ځای ځای د ډاکټر ستوري د ادبي خدمتونو ذکر او يادونه شوې ده.

ډاکټر صاحب د جرمني په کولن ښار کې د زياتو علمي او فرهنګي غونډې په يو سر کړې دي او نه صرف پښتو يې ژوندۍ ساتلې بلکه له پښتونخوا نه يې په خپل لګښت يو شمېر پښتانه شاعران، اديبان او هنرمندان د هغو غونډو او مشاعرو ته بللي هم دي او هلته يې ورته ډېره ښه مېلمه پالنه او عزت کړی دی.

باجاجي دا هم وويل چې زموږ د اکثر پښتنو شاعرانو په کورونو کې پښتو نه ويل کېږي خو د ډاکټر ستوري ټول اولادونه په پښتوخبرې، ليکل او لوستل کولای شي او په تېره بيا بصير ستوري پکې صاحب کتاب شاعر هم دی.

ښاغلي صابر په خپلو خبرو کې د افغان کلتوري ټولنې په خلګړي ټول د امان الله نصرت مننه وکړه چې د پښتو ژبې او ادب خدمت ته يې اوګه ورکړې او د دلسې لويو او مهمو غونډو په جوړولو سره د لر او بر پښتنو د يووالي او وروروولۍ اړيکې ټينګې او ژوندۍ ساتي او ترمنځ يې د مينې او عزيزولۍ رښتې خوروي.

د غونډې مشر مېلمه ډاکټر محمد سليم خان د محمد افضل خان لالا او ډاکټر ستوري په خوږو او تودو اړيکو او اوږده دوستۍ تفصيلي خبرې وکړې او ويې ويل له بده قسمته چې ما د خپلو رسمي دندو او بوختياوو له امله له اروښاد ډاکټر کبير ستوري سره مخ په مخ نه وو ليدلي خو پلار به مې تل د مرحوم ډاکټر صاحب د پښتونولۍ، مېړانې، مېلمه پالنې، پوهې، قلمپالنې او وطن دوستۍ خبرې کولې او د يوه ښه دوست او زړه ميشتي ملګري په توګه به يې د هغه ستاينه او تعريف کاوه. هغه وويل چې پښتانه په څلور برخو انګريزانو تقسيم کړي چې تراوسه يې لاخپل قامي وجود (تشخص) نه دی حاصل کړی او همدغه وجه ده چې لر او بر پښتانه د مختلفو مسلو او ستونزو سره مخ دي.

ډاکټر سليم زياته کړه چې افضل خان لالا څو ځله د ډاکټر ستوري په بلنه د هغه ليدو ته جرمني ته سفرونه وکړل او چې کله به مو پلار په سوات او پېښور کې وتو په ساعتونو ساعتونو به يې له ډاکټر صاحب سره په ټيليفون خبرې کولې او د سيمې او وطن په سياسي حالاتو او د پښتنو په ښو ورځو به يې يو تر بله خپل نظرونه سره شريکول هغوئ دواړه د پښتون قامي وحدت د نظريې پيروان وو د پښتنو د يووالي لپاره يې خپل غږ پورته کړه.

د ډاکټر سليم له وينا وروسته بصير بېدار ستوري دريځ ته وبلل شو او نوموړي د ټولو مېلمنو نه مننه وکړه چې په غونډه کې يې ګډون وکړ او په خپل رانګ يې د نوموړي د پلار اروا ښاد او خوښه کړه همدغه راز بصير ستوري د افغان کلتوري ټولنې له مشرتابه څخه شکريه وکړه چې د دلسې يوې ستري، شانداري او پرتمينې غونډې په جوړولو کې يې هلې ځلې وتښه سپمولي او ددې غونډې په بريالیتوب کې يې زموږ سره اوږه په اوږه برخه واخيسته او بيا يې خپل يو نظم چې د خپل بابا په ياد يې ليکلی و د نوموړي اروا ته ډالۍ کړ چې ټولو ګډونوالو خوښ کړ او له ټولو نه غبرګون سره مخ شو.

په دې درنه غونډه کې امان الله نصرت او احمدشاه هوتکزي خپل شعرونه چې د اروښاد کبير ستوري په ياد يې ليکلي و، ولوستل چې د غونډې برخه والو په تودو احساساتو ښدرګه کړل.

د غونډې په وروستۍ برخه کې د غونډې صدر پروفيسر ډاکټر اباسين يوسفزی صدارتي وينا ته وبلل شو او نوموړي دا غونډه وستايله او د افغان کلتوري ټولنې مننه يې وکړه چې د خپلو شاعرانو او پوهانو يادونه، ستاينه او خلونه کوي او تېر شوي مشران هېرولو ته نه پرېږدي.

ډاکټر اباسين په ټولو غږ وکړ چې بايد د خپلې مورنۍ ژبې پښتو د لا غوړېدنې او ځلېدنې لپاره دې ټول په پوره اخلاص خپل کار او زيار جاري وساتي او په دې لاره کې دې له پخوا زيات ګړندي او د پام وړ ګامونه واخلي.

ښاغلي اباسين يوسفزي د ډاکټر ستوري په ټولنيز شخصيت، سياسي ژوند او ادبي سفر او يون هم په زړه پورې خبرې وکړې او د هغه سره د خپلو ليدنو څو لنډې خاطرې د غونډې د ګډونوالو سره شريکې او نوموړی يې د يوه ښه شاعر، ليکوال او سياستوال په توګه د قدر وړ وباله او د هغه هر اړخيز رښتونی شخصيت يې په درنو الفاظو يې ياد کړ.

ددې پرتمينې غونډې لومړنۍ ناسته د هيواد د ازادۍ د لارې د مشر مجاهد او مجتهد عالم حضرت مولانا چکنوري رح د لمسي الحاج ميرويس چکنوري په اختتاميه خبرو او دعا پای ته ورسېده.

ددې درنې نمانځغونډې دوهمه برخه مشاعره وه چې يو زيات شمېر مېلمنو شاعرانو پکې خپل شعرونه او کلامونه واورول، د برخه والو ادبي تنده يې خړوب کړه او ټولنو تري خوند واخيست. څرنګه چې ګڼ شمېر شاعرانو غوښتل چې خپل شعرونه واوروي نو د کلتوري ټولنې کورنيو شاعرانو خپل نوبت مېلمنو شاعرانو ته ورکړ او د درنو او قدرمنو مېلمنو شاعرانو شعرونه او وينا يې په چکچکو او تودو احساساتو ښدرګه کړل.

په دې يادګاري مشاعره کې لاندې شاعرانو خپل منظوم کلامونه او خوږې غزلې واورولې:

پروفيسر ډاکټر اظهار الله اظهار، پروفيسر ډاکټر انور علي انور، قاضي ډاکټر حنيف الله حنيف، اقبال حسين افکار، فضل مومند، سيد ولي خيال مومند، حيات روغاني، احد امين رهبر، حساس يوسفزی، غازي اجمل افغان، فرياد ملاګوری او يو شمېر نور...

په دې نمانځغونډه کې شاعرانو ژورنالست شمس مومند، خوږ ژبي سندرغاړی ارباب فضل رؤف، د پښتونخواه د پراګ کاسترانو د اتحادیې مشر او خبريال ښايسته رحمان، د VOA اشنا راډيو خبريالة موسکا صافي، خوږژبي شاعر محمد قاسم مين، ښاغلي زمري کلوي، کامران سروري ډاکټر مفتاح الدين، علاوالدين، سرور اقبال يوسفزی ايډوکيټ، عارف همدرد ساپی، شافي خان مومند، ثناالله ملکزی، ميوند حبيبي، صفي الله سنګين، محسن صديقي، داود جبارخيل او يو شمېر نورو درنو علمي او ادبي شخصيتونو او د شعر او ادب مينه والو ګډون درلود.

قدرت

3

10 نومبر 2013

ډېر ژر...!
د ډاکټر کبیر ستوري لیسې (۵۰) پنځوسمې کالیزې
لمانځغونډه.
د خاص کونړ ولسونه
۵۰ کالیزه

ورځپاڼه
بانی: پیرسید سفید شاه همدرد
وحدت
ایڈیٹر: سید هارون شاه
پیښور